# د روندي خونديتوبونو خبرتیا

وروستی اپډېټ: 16/10/18

یادښت: دغه سند د لاسرسي له پاره د مشېګان د زده کړو د ډیپارټمنټ له معیارونو سره د سمون په موخه اپډېټ شوی و. په منځپانګه کې نور بدلونونه نه وو راغلي.

د مشېګان د زده کړو ډیپارټمنټ

د ځانګړو زده کړو اداره

**د ایالت د زده کړو بورډ**

(کاساندرا اي. اولبریچ، مرستیال – رییس) Casandra E. Ulbrich, Co-President

(ریچارډ زیلي مرستیال رییس) Richard Zeile Co-President

(مېشل فکتو، سکرتر) Michelle Fecteau, Secretary

(ټام ام سي میلین، خزانه دار) Tom McMillin, Treasurer

(نیکي سنایډر، د NASBE استازی) Nikki Snyder, NASBE Delegate

(پاملا پوګ) Pamela Pugh

(لوپ راموس - مونتیني) Lupe Ramos-Montigny

(آیلین لاپین ویزر) Eileen Lappin Weiser

**رسمي غړی**

(ریک سنایډر، والي) Rick Snyder, Governor

(شیلا اي. الیس، د ایالت لنډمهالي چارسمبالي) Sheila A. Alles, Interim State Superintendent

**د مشېګان د زده کړو ډیپارټمنټ (MDE)**

د ځانګړو زده کړو اداره

608 West Allegan Street

P.O. Box 30008

Lansing, MI 48909

517-241-7075

MDE website (www.michigan.gov/mde)

د معلولیت لرونکو افرادو له پاره د زده کړو قانون (IDEA)، د معلولیت لرونکو کسانو د زده کړو له پاره د فدرال قانون له ښوونځیو څخه غواړي چې د معلولو ماشومانو والدینو ته خبرتیا ورکړي چې په هغه خبرتیا کې د IDEA او متحده ایالاتو د زده کړو د وزارت د اصولو له مخې موجود روندي خوندیتوب په بشپړه توګه روښانه شوی وي. د خبرتیا یوه کاپي باید والدینو ته په یوه تعلیمي کال کې یوازې یو ځل ورکړل شي، والدینو ته باید یوه کاپي ورکړل شي مګر دا چې لاندې شرایط ولري: (1) په لومړي ځل مراجعې یا د ارزونې له پاره د والدینو د غوښتنې په صورت کې؛ (2) تر 34 CFR §§300.151 لاندې له 300.153 څخه د لومړي ایالتي شکایت له ترلاسه کولو څخه وروسته او په تعلیمي کال کې د §300.507 مطابق د لومړي شکایت د ترلاسه کولو په صورت کې؛ (3) کله چې د یوه انضباطي عمل پرېکړه کېږي چې د ځایګاه د بدلون په کچه کېدای شي؛ او (4) د والدینو د غوښتنې په صورت کې.[34 CFR §300.504(a)]

د روندي خوندیتوبونو په دغه خبرتیا کې باید د روندي خوندیتوبونو بشپړ توضیحات موجود وي چې د دغو مواردو تر چتر لاندې موجود دي: §300.148 (په خصوصي ښوونځي کې په دولتي لګښت یو طرفه ځایګاه)، §§300.151 له 300.153 (د ایالتي شکایت پروسیجرونه)، §300.300 (رضایت)، §§300.502 له 300.503 څخه، §§300.505 له 300.518 څخه او §§300.530 له 300.536 څخه (د B برخې د اصولو په E ځانګیزه برخه کې روندي خوندیتوبونه)، او §§300.610 له 300.625 څخه (د معلوماتو محرمیت په F ځانګیزه برخه کې).

په دې سند کې لاندې مخففات کارول شوي دي:

| | |
|---|---|
| ALJ | د اداري قانون قاضي |
| BIP | د چلندي لاسوهنې پلان |
| FAPE | وړیا مناسب عامه تعلیم |
| FERPA | د کورنۍ د زده کړې د حقونو او خصوصي حریم قانون |
| FBA | د عملکرد چلندي ارزونه |
| IDEA | د معلولیت لرونکو کسانو له پاره د زده کړو قانون |
| IEE | د زده کړو خپلواکه ارزونه |
| IEP | د فردي زده کړو پروګرام |
| MDE | د مشېګان د زده کړو ډیپارټمنټ |
| OSE | د ځانګړو زده کړو اداره |
| SOAHR | د اداري اورېدنو او اصولو ولایتي اداره |

# د مطالبو لړلیک


د روندي خوندیتوبونو خبرتیا ........ 11
عمومي معلومات ........ 11
له وړاندي لیکلي خبرتیا ........ 11
34 CFR §300.503 ........ 11
خبرتیا ........ 11
د خبرتیا منځپانګه ........ 11
د فردي زده کړې له پروګرام څخه د خبرتیا په توګه کار اخیستل ........ 12
خبرتیا د پوهاوي وړ ژبه کې ........ 12
اصلي ژبه ........ 12
34 CFR §300.29 ........ 12
برېښنالیک ........ 12
34 CFR §300.505 ........ 12
د والدینو رضایت - تعریف ........ 13
34 CFR §300.9 ........ 13
رضایت ........ 13
د والدینو رضایت ........ 13
34 CFR §300.300 ........ 13
د ابتدایي ارزوني له پاره رضایت ........ 13
د ایالت د عاجزانو د لومړنۍ ارزوني له پاره ځانګړي اصول ........ 14
د خدمتونو له پاره د والدینو رضایت ........ 14
د والدینو د رضایت لغوه کول ........ 15
د بیاځلي ارزونو له پاره د والدینو رضایت ........ 15
د والدنیو د رضایت له پاره د معقولو هڅو مستندول ........ 16
د رضایت نورې اړتیاوې ........ 16
د زده کړې خپلواکي ارزوني ........ 16
34 CFR §300.502 ........ 16
عمومي ........ 16

تعریفونه....... 17
په دولتي لګښت د ارزونې له پاره د والدینو حق ....... 17
د والدینو له لوري ترسره شوې ارزونې ....... 18
د اداري قانون د قاضي له لوري د ارزونې غوښتنې ....... 18
د تعلیمي حوزې معیارونه ....... 18
د معلوماتو محرمیت ....... 18
تعریفونه ....... 18
34 CFR §300.611 ....... 18
هغه معلومات چې د شخص هویت په ډاګه کوي....... 19
34 CFR §300.32 ....... 19
والدینو ته خبرتیا ....... 19
34 CFR §300.612 ....... 19
د لاسرسي حقونه ....... 19
34 CFR §300.613 ....... 19
د لاسرسي سند ....... 20
34 CFR §300.614 ....... 20
له یوه څخه د زیاتو ماشومانو سوابق ....... 20
34 CFR §300.615 ....... 20
د معلوماتو د ډولونو او موقعیتونو لېست....... 20
34 CFR §300.616 ....... 20
فیسونه ....... 20
34 CFR §300.617 ....... 20
د والدینو په غوښتنه د سوابقو اصلاح کول....... 21
34 CFR §300.618 ....... 21
د یوې اورېدنې له پاره فرصت....... 21
34 CFR §300.619 ....... 21
د اورېدنې پروسېجرونه ....... 21
34 CFR §300.621 ....... 21
د اورېدنې پایله....... 21

34 CFR §300.620 ........ 21
د شخصي هویت څرګندوونکو معلوماتو د شریکولو رضایت ........ 22
34 CFR §300.622 ........ 22
خوندیتوبونه ........ 22
34 CFR §300.623 ........ 22
د معلوماتو له منځه وړل ........ 23
34 CFR §300.624 ........ 23
د زده کوونکي حقونه ........ 23
34 CFR §300.625 ........ 23
منځګړیتوب ........ 23
منځګړیتوب ........ 23
34 CFR §300.506 ........ 23
عمومي ........ 23
اړتیاوې ........ 24
د منځګړي بې پرېوالی ........ 25
د ایالتي شکایت پروسېجر ........ 26
اړوند شکایت ته د رسیدګی او د ایالتي شکایت د پروسېجرونو تر منځ توپیر ........ 26
ایالتي شکایت ته د رسیدګی پروسېجرونه ........ 26
34 CFR §300.151 ........ 26
عمومي ........ 26
د مناسبو خدمتونو د رد له پاره حل لارې ........ 26
د ایالتي شکایت حداقل پروسېجر ........ 27
34 CFR §300.152 ........ 27
د وخت محدودیت؛ حداقل پروسېجرونه ........ 27
د وخت غځول؛ وروستی پرېکړه؛ پلي کول ........ 27
ایالتي شکایتونه او د اورېدني پروسې ........ 27
د ایالتي شکایت ثبتول ........ 28
34 CFR §300.153 ........ 28
د پروسې په اړه د شکایت پروسېجرونه ........ 30

د پروسي د شکایت ثبتول ........ 30
34 CFR §300.507 ........ 30
عمومي ........ 30
د والدینو له پاره معلومات ........ 30
د پروسي اړوند شکایت ........ 30
34 CFR §300.508 ........ 30
عمومي ........ 30
د شکایت محتوا ........ 30
د پروسې پر شکایت د اورېدني له ناستي وړاندې اړینه خبرتیا ........ 31
د شکایت کفایت ........ 31
د شکایت اصلاح کول ........ 31
د پروسي شکایت ته د تعلیمي حوزې ځواب ........ 32
د پروسي شکایت ته د بل لوري ځواب ........ 32
نمونوي فورمونه ........ 32
34 CFR §300.509 ........ 32
د پروسې د شکایت او اورېدني د پروسې د ځنډېدو پر مهال د ماشوم ځای ځایګاه ........ 32
34 CFR §300.518 ........ 32
د تصمیم نیوني پروسه ........ 33
34 CFR §300.510 ........ 33
د تصمیم نیوني ناسته ........ 33
د تصمیم نیوني دوره ........ 34
د تصمیم نیوني په 30 ورځنۍ دوره کي د اصلاحاتو راوستل ........ 34
د حل لیکلي هوکړه ........ 35
د هوکړې د بیا کتني دوره ........ 35
د پروسي د شکایت د اورېدني ناسته ........ 36
د پروسي بې پرې اورېدنه ........ 36
34 CFR §300.511 ........ 36
عمومي ........ 36

د اداري قانون بې پرې قاضي ........ 36
د پروسې د اورېدنې موضوع ........ 36
د اورېدنې له پاره د غوښتنې مهالوېش ........ 36
په مهالوېش کې استثناوې ........ 37
د اورېدنې حقونه ........ 37
34 CFR §300.512 ........ 37
عمومي ........ 37
د معلوماتو اضافي ډاګيز کول ........ 37
په اورېدنو کې د والدينو حقونه ........ 37
د اورېدنې پرېکړې ........ 38
34 CFR §300.513 ........ 38
د اداري قانون د قاضي پرېکړه ........ 38
د رغونې قضيه ........ 38
د روندې پروسې د اورېدنې له پاره جلا غوښتنه ........ 38
سلاکار پلاوي او عام خلکو ته موندنې او پرېکړه غوښتنې ........ 39
د پرېکړې وروستی والی؛ غوښتنه بې پرې بياکتنه ........ 39
34 CFR §300.514 ........ 39
د اورېدنې د پرېکړې وروستی والی ........ 39
د اورېدنې د ناستو مهالوېشونه او آسانتياوې ........ 39
34 CFR §300.515 ........ 39
مدني اقدامات، د هغې زماني دورې په ګډون چې دغه اقدامات پکې وارد شي ........ 39
34 CFR §300.516 ........ 39
عمومي ........ 39
د وخت محدوديت ........ 40
اضافي پروسېجرونه ........ 40
د حوزوي محکمو صلاحيت ........ 40
د رغونې قانون ........ 40

د وکیل فیس ........ 40
34 CFR §300.517 ........ 40
عمومي ........ 40
د فیسونو ورکړه ........ 41
د معلولیت لرونکو ماشومانو د تنبیه پروسېجرونه ........ 43
د ښوونځي د پرسونل صلاحیت ........ 43
34 CFR §300.530 ........ 43
قضیه په قضیه تشخیص ........ 43
عمومي ........ 43
اضافي صلاحیت ........ 43
خدمتونه ........ 43
د ظهور تعیین ........ 44
دا معلومول چې چلند د ماشوم د معیوبیت ښکارندویي کوي ........ 45
ځانګړي شرایط ........ 45
تعریفونه ........ 45
خبرتیا ........ 46
د انظباطي حذفولو له کبله د ځای بدلون ........ 46
34 CFR §300.536 ........ 46
د تنظیماتو پېژندنه ........ 47
34 CFR § 300.531 ........ 47
غوښتنه ........ 47
34 CFR § 300.532 ........ 47
عمومي ........ 47
د اداري قانون د قاضي واک ........ 47
د غوښتني پر مهال ځای پر ځای کول ........ 48
34 CFR §300.533 ........ 48
له هغو ماشومانو څخه ملاتړ چې تر اوسه د ځانګړو زده کړو او د هغوی اړوند خدمتونو په شرایطو برابر نه دي ........ 48
34 CFR §300.534 ........ 48

عمومي........ 48
په انضباطي موضوعاتو باندې د پوهېدو بنستونه ........ 48
استثنا ........ 49
هغه شرایط چې د پوهې د نه شتون په صورت کې پلي کیږي........ 49
د انتظامي او قضایي چارواکو لخوا راجع کول او اقدام........ 49
34 CFR §300.535........ 49
د سوابقو لېږد........ 50
په عامه لګښت په خصوصي ښوونځیو کې د ماشومانو د والدینو لخوا د یو اړخیز ځای پرځای کولو اړتیاوې ........ 51
عمومي ........ 51
34 CFR §300.148........ 51
په خصوصي ښوونځي کې د ځای پر ځای کولو لپاره اداینه........ 51
په بېرته اداینه باندې محدودیتونه........ 51
د بلوغ عمر کې د والدینو د حقونو لېږد ........ 52
34 CFR §300.520........ 52
د الف ضمیمه - فدرال تعریفونه ........ 53
جدي بدني زیان........ 53
18 USC 1365(h) ........ 53
وسله........ 53

# د روندي خونديتوبونو خبرتيا

## عمومي معلومات

### له وړاندې ليکلې خبرتيا

### 34 CFR §300.503

**خبرتيا**

ستاسو تعليمي حوزه (د "تعليمي حوزې" اصطلاح چې په دې خبرتيا کې کارول کېږي، د عامه ښوونځي اکاډمي پکې شاملېږي) بايد تاسو ته يوه ليکلې خبرتيا درکړي (تاسو ته په ليکلې بڼه مشخص معلومات درکوي)، د لاندې موارد په صورت کې:

1. وړانديز کوي چې د خپل ماشوم پېژندنه، ارزونه، يا زده کړه ييزه ځايګاه او يا ستاسو ماشوم ته د وړيا مناسبې عامه زده کړې (FAPE) چمتو کول پيل او يا بدل کړئ؛ يا
2. ستاسو د ماشوم پېژندنه، ارزونه او يا زده کړه ييزه ځايګاه، يا ستاسو ماشوم ته د FAPE چمتو کولو پيلول او يا بدلول ردوي.

**د خبرتيا منځپانګه**

ليکلې خبرتيا بايد:

1. هغه اقدام روښانه کړي چې ستاسو تعليمي حوزه يې وړانديز کوي او يا يې ردوي؛
2. روښانه کړي چې ولې ستاسو تعليمي حوزه د اقدام وړانديز کوي او يا يې ردوي؛
3. هر هغه د ارزونې پروسيجر، ارزونه، سوابق، او يا راپور روښانه کړي چې ستاسو تعليمي حوزې د اقدام د وړانديز او يا رد په اړه په تصميم نيونه کې ترې ګټه اخيستې وي؛
4. بيانيه شامله کړي چې تاسو د IDEA د B په برخه کې د روندي خونديتوبونو تر مقرراتو لاندې خونديتوب لرئ؛
5. تاسو ته ووايي چې هغه اقدام چې ستاسو تعليمي حوزه يې وړانديز کوي او يا يې ردوي، د ارزونې له پاره ابتدايي ارجاع نه ده، نو په دې صورت کې څه ډول کولای شئ د روندي خونديتوبونو شرحه ترلاسه کړئ؛
6. ستاسو له پاره سرچينې په ګوته کړي تر څو د IDEA د B په برخه په پوهېدو کې ترې مرسته ترلاسه کړئ؛
7. نور هغه غوراوي شرح کړي چې ستاسو د ماشوم د فردي زده کړې د پروګرام (IEP) ډلې په پام کې نيولي وي او هغه دلايل هم روښانه شي چې ولې دغه غوراوي رد شوي وو؛ او
8. نور هغه دلايل هم روښانه کړای شي چې ولې ستاسو روغتيايي حوزې دغه اقدام وړانديز او يا رد کړ.

**د فردي زده کړې له پروګرام څخه د خبرتیا په توګه کار اخیستل**

ښايي یوه عامه ایجنسی IEP د مخکینی لیکلي خبرتیا د یوې برخې په توګه وکاروي تر هغې چې والدین سندونه ترلاسه کوي چې په §300.503 کې ټولې اړتیاوې بشپړې کړي.

**خبرتیا د پوهاوي وړ ژبه کې**

خبرتیا باید په لاندې ډول وي:

1. په داسې ژبه لیکل شوې وي چې عامو خلکو ته د پوهاوي وړ وي؛ او
2. ستاسو په اصلي ژبه لیکل شوې وي یا د اړیکو په کوم بل ډول چې تاسو یې کاروئ، مګر دا چې په څرګنده دغه کار ناشونی وي.

که ستاسو اصلي ژبه یا د اړیکو کومه بله بڼه یوه لیکنۍ ژبه نه وي، ستاسو تعلیمي حوزه باید ډاډ ورکړي چې:

1. خبرتیا ستاسو له پاره ستاسو په اصلي ژبه یا د اړیکو په کومه بله بڼه په شفاهي توګه ژباړل کېږي؛
2. تاسو د خبرتیا پر منځپانګه وپوهېږئ؛ او
3. لیکلی سند موجود دی چې 1 او 2 لیدل شوي دي.

**اصلي ژبه**

## 34 CFR §300.29

په اصلي ژبه له هغو کسانو سره خبرې کېږي چې هغوی پر انګلیسي لږ پوهېږي، لکه په لاندې ډول:

1. هغه ژبه چې په عادي ډول یو کس پرې خبرې کوي، که ماشوم وي، هغه ژبه چې والدین یې پرې خبرې کوي؛
2. له ماشوم سره په مستقیمه اړیکه کې (د ماشوم د ارزونې په ګډون)، هغه ژبه چې د ماشوم په کور یې د زده کړو په چاپېریال کې پرې خبرې کېږي.

د ړندو او کڼو کسانو له پاره، یا د هغه کس له پاره چې په لیکنۍ ژبه نه پوهېږي، له هغوی سره د اړیکو له عام ډول څخه کار اخیستل کېږي چې په عادي ډول د خلکو تر منځ کارول کېږي (لکه اشاروي ژبه، د ړندو الفبا او یا شفاهي اړیکې)

**برېښنالیک**

## 34 CFR §300.505

که ستاسو تعلیمي حوزه والدینو ته وړاندیز کوي چې سندونه د برېښنالیک له لارې ترلاسه کړي، نو تاسو به د برېښنالیک له لارې د لاندې موادو ترلاسه کول غوره کړئ:

1. له مخکې لیکلي خبرتیا؛
2. د روندې خوندیتوبونو خبرتیا؛ او
3. د شکایت د ثبتولو د پروسې اړوندې خبرتیاوې.

**د والدینو رضایت - تعریف**

**34 CFR §300.9**

**رضایت**

د رضایت معنا:

1. تاسو ته د هغه اقدام په اړه په بشپړه توګه ستاسو په اصلي ژبه یا د اړیکو په کومه بله بڼه (لکه اشاروي ژبه، د ړندو الفبا یا شفاهي اړیکې) خبر درکړل شوی دی چې تاسو یې رضایت ورکوئ.
2. تاسو پر اقدام پوه شوي یاست او په لیکنی بڼه ورسره هوکړه کوئ، او رضایت روښانه کوي چې اقدام او د سوابقو لېست (که وي) چې خپور به شي او چا ته؛ او
3. تاسو پوهېږئ چې ستاسو له لوري رضایت رضاکارانه دی او کولای شئ هر وخت خپل رضایت بېرته واخلئ.

ستاسو رضایت بېرته اخیستل پر هغه اقدام منفي اغیز نه کوي (نه یې لغوه کوي) چې ستاسو له رضایت وروسته ترسره شوي وي او مخکې له دې چې تاسو رضایت بېرته واخلئ.

**د والدینو رضایت**

**34 CFR §300.300**

**د ابتدایي ارزونې له پاره رضایت**

مخکې له دې چې ستاسو تعلیمي حوزه تاسو ته له مخکې نه په لیکلي بڼه د وړاندیز شوي اقدام په اړه لیکلي خبرتیا درکړي او پرته له دې چې ستاسو رضایت ترلاسه کړي لکه څرنګه چې تر سرلیک لاندې روښانه شو، نشي کولای چې ستاسو د ماشوم لومړنۍ ارزونه ترسره کړي تر څو معلومه کړي چې ستاسو ماشوم د IDEA د B برخې تر چتر لاندې د ځانګړې زده کړې او د هغې اړوندو خدمتونو د ترلاسه کولو له پاره پر شرایطو برابر دی کنه، د **والدینو رضایت — تعریف**

ستاسو تعلیمي حوزه باید معقولې هڅې وکړي چې د لومړنۍ ارزونې له پاره ستاسو رضایت ترلاسه کړي تر څو تصمیم ونیسي چې آیا ستاسو ماشوم یو معلولیت لرونکی ماشوم دی کنه.

د لومړنۍ ارزونې له پاره ستاسو د رضایت ورکول پر دې معنا *نه دی* چې تاسو تعلیمي حوزې ته دا رضایت هم ورکړی دی چې ستاسو د ماشوم له پاره د زده کړې ځانګړی پروګرام او د هغې اړوند خدمتونه چمتو کړي.

که ستاسو ماشوم په دولتي ښوونځي کې شامل شوی وي او یا هڅه کوئ خپل ماشوم په یوه دولتي ښوونځي کې شامل کړئ او د رضایت ورکول مو رد کړي وي او یا د لومړنۍ ارزونې د رضایت غوښتنې ته په ځواب ورکولو کې پاتې راغلي یاست، ستاسو تعلیمي حوزه به هڅه ونکړي چې د قانون په وساطت یا د شکایت د پروسې، د تصمیم له ناستې او د اورېدنو له بې پرې پروسو څخه په استفادې ستاسو د ماشوم لومړنۍ ارزونه ترسره کړي. که په دغه ډول شرایطو کې تعلیمي حوزه ستاسو د ماشوم یوه ارزونه تعقیب نکړي، نو سرغړونه به ونکړي چې ستاسو د ماشوم ځای وځاري، تشخیص یې کړي او یا یې و ارزوي.

**د ایالت د عاجزانو د لومړنی ارزونې له پاره ځانګړي اصول**
که یو ماشوم د ایالت عاجز وي او له خپلو والدینو سره نه اوسیږي ــ

تعلیمي حوزه په لاندې صورتونو کې د والدینو رضایت ته اړتیا نلري چې د هغه لومړنی اروزنه ترسره کړي چې ایا دا یو معلولیت لرونکی ماشوم دی کنه:

1. سره له دې چې تعلیمي حوزه معقولې هڅې وکړې، خو د ماشوم د والدینو پر موندلو بریالی نشي؛
2. چې د والدینو حقونه د ایالت د قانون له مخې لغوه شوي وي؛ یا
3. یو قاضي یا د عامه پاملرنې یوه مسووله دولتي اداره چې له والدینو پرته د یوه شخص په اړه د زده کړه بیزو تصمیم نیونو او لومړنی ارزونې د ترسره کولو له پاره د رضایت د ورکولو حق لري.

*د ایالت عاجز شخص*، چې په IDEA کې استعمالیږي هغه ماشومانو ته ویل کیږي چې:

1. تر پالنې لاندې ماشوم، مګر دا چې د ماشوم پالونکو والدینو ته د هغه قاضي له لوري د ماشوم په تړاو د زده کړه بیزو تصمیم نیونو حق ورکړل شوی وي چې د ماشوم پر قضیه کار کوي یا د داسې عامه اداري له لوري حق ورکړل شوی وي چې د ماشوم د عامه پاملرنې له پاره مسووله وي؛
2. چې د ایالت د قانون له مخې د ایالت د عاجز په توګه په پام کې نیول شوی وي؛
3. چې د ایالت د قانون له مخې د محکمې د عاجز په توګه په پام کې نیول شوی وي؛ یا
4. د ماشوم د عامه هوساینې د ادارې تر پالنې لاندې وي.

**د خدمتونو له پاره د والدینو رضایت**
ستاسو تعلیمي حوزه باید د لومړي ځل له پاره ستاسو ماشوم ته تر ځانګړو زده کړو او د هغې اړوندو خدمتونو له چمتو کولو څخه وړاندې ستاسو رضایت ترلاسه کړي، او اړینه ده چې د دغه رضایت د ترلاسه کولو له پاره معقولې هڅې وکړي.

که تاسو د لومړي ځل له پاره ستاسو ماشوم ته د ځانګړې زده کړې او اړوندو خدمتونو د چمتو کولو له پاره د رضایت غوښتنې ته ځواب ورنکړئ، یا د دغه ډول رضایت ورکول رد کړئ، ستاسو تعلیمي حوزه به ستاسو ماشوم ته ستاسو له رضایت پرته د ځانګړو زده کړو او اړوندو خدمتونو (چې ستاسو د ماشوم د IEP ډلې له لوري توصیه شوي وي) د چمتو کولو په موخه د کومې هوکړې او یا صلاحیت د اخیستلو له پاره روندې خوندیتوبونه ونه کاروي (د بېلګې په توګه وساطت، د شکایت ثبتولو پروسه، د تصمیم نیونې ناسته، یا د اورېدنې یوه مهمه پروسه).

که تاسو لومړی ځل خپل ماشوم ته د ځانګړو زده کړو او اړوندو خدمتونو د ترلاسه کولو له پاره رضایت ورنکړئ، یا د دغه ډول رضایت د ورکولو له پاره غوښتنې ته ځواب ورنکړئ او ستاسو تعلیمي حوزه ستاسو ماشوم ته ځانګړې زده کړې او اړوند خدمتونه چمتو نکړي د کوم له پاره چې هغوی ستاسو د رضایت د ترلاسه کولو هڅه کړې ده، نو ستاسو تعلیمي حوزه:

1. ستاسو د ماشوم له پاره د خدمتونو په چمتو کولو کې د پاتې راتګ له امله چې FAPE د لاسرسي وړ وګرځوي له اړتیا سره په ټکر کې نه ده؛ او

2. اړتيا نلري چي ستاسو ماشوم ته د ځانګړې زده کړې او اړوندو خدمتونو له پاره چي ستاسو رضايت يي غوښتی و د IEP ناسته ترسره کړي او يا يوې IEP ته پراختيا ورکړي.

**د والدينو د رضايت لغوه کول**

که چيرته تاسو خپلي تعليمي حوزې ته په ليکلي بڼه خبر ورکړئ چي تاسو خپل ماشوم ته د ځانګړې زده کړې او اړوندو خدمتونو له پاره رضايت لغوه کوئ (بېرته اخلئ)، په دې صورت کي ستاسو تعليمي حوزه:

1. ستاسو د ماشوم له پاره به ځانګړې زده کړې او د اړوندو خدمتونو وړاندي کولو ته دوام ورنکړي؛
2. په ليکلي بڼه ستاسو د رضايت د لغوه کولو د غوښتني له ترلاسه کولو وروسته بايد تاسو ته پر وخت ليکلي مخکيني خبرتيا درکړي، د IDEA قوانينو د §300.503 له رضايت سره او د ځانګړې زده کړې او اړوندو خدمتونو د لغوه کولو له پاره طرحه تاسو ته درکړي؛
3. ستاسو ماشوم ته د خدمتونو د وړاندي کولو له پاره به د هوکړې او يا يو صلاحيت د اخيستو په موخه د ورکړې د پروسې له پروسېجرونو (د بېلګي په توګه، وساطت، د تصميم نيوني جلسه، د اورېدني يوه بې پرې جلسه) څخه کار وانخلي؛
4. ستاسو د ماشوم له پاره د نورو ځانګړو زده کړو او اړوندو خدمتونو په چتو کولو کي د پاتي راتلو له امله چي FAPE د لاسرسي وړ وګرځوي، له اړتيا سره په ټکر کي نه ده؛
5. اړتيا نلري چي ستاسو ماشوم ته د نورو ځانګړو زده کړو او اړوندو خدمتونو د وړاندې کولو په موخه IEP ناسته ترسره کړي او يا کومې IEP ته پراختيا ورکړي؛ او
6. اړتيا نلري چي د رضايت د بېرته اخيستو له امله ستاسو د ماشوم د ځانګړې زده کړې سوابق اصلاح کړي، تر څو ستاسو د ماشوم د ځانګړې زده کړې او اړوندو خدمتونو له رسيد څخه کومه مرجع حذف کړي.

**د بياځلي ارزونو له پاره د والدينو رضايت**

ستاسو تعليمي حوزه مخکي له دې چي ستاسو ماشوم بياځلي و ارزوي بايد ستاسو رضايت ترلاسه کړي، له دې پرته يي ستاسو تعليمي حوزه په لاندي صورتونو کي ښودلی شي:

1. ستاسو د ماشوم د بياځلي ارزوني له پاره يې ستاسو د رضايت له پاره معقول ګامونه اخيستي وي؛ او
2. تاسو ځواب نه وي ورکړی.

که تاسو د خپل ماشوم د بياځلي ارزوني له پاره رضايت ورنکړئ، نو تعليمي حوزه اړتيا نلري چي ستاسو د ماشوم د بياځلي ارزوني له پاره ستاسو د ردولو پر وړاندې ستاسو د رضايت د اخيستو په موخه له مطابقت، د شکايت د ثبت له پروسې، د تصميم نيوني له ناستي او د اورېدني له بې پرې پروسې څخه ګټه واخلي. د لومړنی ارزوني په څېر، ستاسو تعليمي حوزه په هماغه ډول د بيا ځلي ارزوني د نه تعقيبولو په صورت کي د IDEA په B برخه کي خپلي ژمني نه ماتوي.

**د والدينو د رضايت له پاره د معقولو هڅو مستندول**

ستاسو ښوونځی باید د لومړنیو ارزونو له پاره د والدینو د رضایت په موخه، د لومړي ځل له پاره د ځانګړو زده کړو او اړوندو خدمتونو د ترلاسه کولو له پاره، د ایالت د عاجزو ماشومانو د بیا ځلي ارزولو او د هغوی د والدینو د موقعیت د تعیین له پاره اسناد وساتي. په مستندولو کې باید په لاندې برخو کې د تعلیمي حوزې د هڅو سوابق شامل وي:

1. د ترسره شویو ټلیفوني اړیکو او د هغوی د هڅو او د هغوی د پایلو د سندونو جزئیات؛
2. د هغو لیکونو کاپي ګاني چې والدینو ته استول شوي وي او د هغوی ترلاسه شوي ځوابونه؛ او
3. د هغو لیدنو د جزئیاتو سوابق چې له والدینو سره په کور او یا کارځای کې ترسره شوې وي او د هغو لیدنو پایلې.

**د رضایت نورې اړتیاوې**

مخکې له دې چې ستاسو تعلیمي حوزه لاندې کارونه ترسره کړي، ستاسو د رضایت اخیستل اړین نه دي:

1. ستاسو د ماشوم د ارزونې او یا بیا ځلي ارزونې د یوې برخې په توګه ستاسو د اوسنیو معلوماتو بیا کتنه وکړي؛ یا
2. ستاسو له ماشوم څخه کومه ازموینه واخلي او یا یې ارزونه وکړي چې په معمول ډول د ټولو زده کوونکو له پاره ترسره کیږي، مګر دا چې داسې کومه ازموینه او یا ارزونه وي چې د ټولو ماشومانو د والدینو رضایت اخیستل ورته اړین وي.

ستاسو تعلیمي حوزه به د یوه خدمت یا فعالیت له پاره ستاسو د رضایت نه ورکول به ستاسو او یا ستاسو د ماشوم د نورو خدمتدونو، ګټو او یا فعالیتونو د ردولو له پاره و نه کارول شي.

که تاسو خپل ماشوم په یوه خصوصي ښوونځي کې په خپل شخصي لګښت شامل کړی وي او یا خپل ماشوم ته په کور کې زده کړه ورکوئ، او د خپل ماشوم د لومړنی ارزونې او یا بیا ځلي ارزونې له پاره رضایت نه ورکوئ، او یا د رضایت ورکولو د غوښتنې په ځواب کې پاتې راغلي یاست، تعلیمي حوزه به خپل د رضایت د لغوه کولو له پروسیجرونو څخه ګټه وانخلي (د بېلګې په توګه، وساطت، د شکایت د ثبت پروسه، د تصمیم نیولو ناسته، یا د اورېدنې یوه بې پرې پروسه) او اړینه نه ده چې ستاسو ماشوم د عادلانه خدمتونو د ترلاسه کولو له پاره وړ وګڼي (هغه خدمتونه چې د معلولیت لرونکو ماشومانو له پاره په پام کې نیول شوي وي چې د والدینو له لورې یې په خصوصي ښوونځیو کې شامل کړای شوي وي).

## د زده کړې خپلواکې ارزونې

## 34 CFR §300.502

**عمومي**

لکه لاندې چې روښانه شوه، که چېرته تاسو د خپل ماشوم په اړه د تعلیمي حوزې د له ارزونې سره همغږي نه یاست، حق لرئ چې د خپل ماشوم له پاره یوه خپلواکه تعلیمي ارزونه (IEE) ترسره کړئ.

که تاسو د IEE غوښتنه وکړئ، نو تعلیمي حوزه به تاسو ته معلومات درکړي چې په کوم ځای کې تاسو IEE ترلاسه کولای شئ او د تعلیمي حوزې د معیارونو معلومات به هم درکړي چې پر IEEپلي کیږي.

**تعریفونه**

د IEE معنا د یوه وړ ازموینه اخیستونکي له خوا ترسره کېدونکي ارزونه ده چې د هغې تعلیمي حوزې له لوري نه وي ګومارل شوی کومه چې ستاسو د ماشوم ښوونیز مسوولیت لري.

د عامه لګښت معنا دا ده چې تعلیمي حوزه یا د ارزونې بشپړ لګښت ورکوي او یا ډاډ ورکوي چې ارزونه ستاسو له پاره د IDEA د B برخې د مفاداتو له مخې په وړیا ډول ترسره کېږي، دا برخه ایالت ته اجازه ورکوي چې په ایالت کې د شته مرستو ایالتي، سیمه ییزې، فدرال او خصوصي سرچینې د قانون د B برخې د اړتیاوو د بشپړولو له پاره وکاروي.

**په دولتي لګښت د ارزونې له پاره د والدینو حق**

که تاسو د خپل ماشوم په اړه د خپلې تعلیمي حوزې له لوري له ترسره شوې ارزونې سره موافق نه یاست، حق لرئ چې د ماشوم له پاره مو په دولتي لګښت یوه IEE ترسره شي، خو د لاندې شرایطو په صورت کې:

1. که تاسو د خپل ماشوم له پاره په دولتي لګښت د IEE ارزونې د ترسره کېدو غوښتنه په لیکلي بڼه ورکړئ، نو ستاسو تعلیمي حوزه باید د غوښتنې له ترلاسه کولو وروسته په اووه تقویمي ورځو کې ستاسو د غوښتنې ځواب په لیکلي بڼه درکړي، په دې ځواب کې به د تعلیمي حوزې هوډ په ډاګه شوی وي چې: (الف) په دولتي لګښت IEE چمتو کړي؛ یا (ب) د اورېدنې د غوښتنې له پاره یوه شکایت ثبت کړي تر څو وښيي چې ستاسو د ماشوم ارزونه مناسبه ده.
2. که ستاسو تعلیمي حوزه د اورېدنې د ناستې غوښتنه وکړي او وروستی پرېکړه دا شي چې د تعلیمي حوزې له لوري ستاسو د ماشوم له پاره ترسره شوې ارزونه مناسبه ده، تاسو لا هم د IEE حق لرئ، مګر په دولتي لګښت نه.
3. که تاسو د خپل ماشوم له پاره د یوې IEE غوښتنه کوئ، تعلیمي حوزه به وپوښتي چې تاسو ولې د خپل ماشوم په اړه د تعلیمي حوزې له لوري پر ترسره شوې ارزونه نیوکه لرئ. که څه هم ښايي تعلیمي حوزه اړتیا ونلري چې وضاحت ورکړي او ښايي له دلیل پرته ستاسو د ماشوم له پاره په دولتي لګښت د IEE چمتو کول او ستاسو د ماشوم په اړه د تعلیمي حوزې د ارزونې د ملاتړ له پاره د اورېدنې د ناستې د ترسره کولو له پاره د شکایت ثبتول ونه ځنډوي.
4. که چېرته ترسره شوې IEE ستاسو د تعلیمي حوزې پر معیارونو برابره نه وي، تعلیمي حوزه کولای شي له قانوني لارې یو شکایت ثبت کړي. که د اورېدنې د جلسې وروستۍ پرېکړه دا وي چې ارزونه د تعلیمي حوزې پر معیارونو برابره نه ده، ستاسو د IEE د عامه لګښت بېرته اداینه ښايي رد شي.

هر ځل چې تعلیمي حوزه ستاسو د ماشوم ارزونه ترسره کوي او تاسو ورسره همغږي نه یاست، نو تاسو په دولتي لګښت یوازې د یوې IEE د ترسره کولو حق لرئ.

**د والدینو له لورې ترسره شوې ارزونې**

که چېرته تاسو د خپل ماشوم یوه IEE په دولتي لګښت ترسره کړئ یا د خپل ماشوم په اړه په شخصي لګښت ترسره شوې ارزونه له تعلمي حوزې سره شریکه کړئ:

1. که چېرته ستاسو د ماشوم په اړه د FAPE د ترسره کولو پرېکړه کېږي، تعلیمي حوزه باید ستاسو د ماشوم د ارزونې پایلې په پام کې ونیسي، په هغه صورت کې چې د FAPE له پاره د تعلیمي حوزې پر معیارونو برابر وي.
2. تاسو او یا ستاسو تعلیمي حوزه ښایي ارزونه ستاسو د ماشوم په تړاو د اورېدنې په ناسته کې د سند په توګه وړاندې کړي.

**د اداري قانون د قاضي له لوري د ارزونې غوښتنې**

که چېرې د اداري قانو قاضي (ALJ) د اورېدنې د پروسې د یوې برخې په توګه ستاسو د ماشوم له پاره د IEE غوښتنه کوي، د ارزونې لګښت باید د دولت له لوري ورکړل شي.

**د تعلیمي حوزې معیارونه**

که چېرته IEE په دولتي لګښت ترسره شي، هغه معیارونه چې پر بنسټ یې ارزونه ترسره کېږي، د ارزونې د ځای او د آزموینې اخیستونکي د وړتیاوو په ګډون، باید هماغه معیارونه وي چې تعلیمي حوزه یې د ارزونې تر پیلولو وړاندې کاروي (تر هغه بریده چې دا معیارونه د IEE د ترسره کولو په اړه ستاسو له حقونو سره مطابقت لري).

تعلیمي حوزه ښایي له پورته شرح شویو معیارونو پرته په دولتي لګښت د IEE د اخیستو په تړاو شرایط او زماني جدول تحمیل نکړي.

## د معلوماتو محرمیت

### تعریفونه

### 34 CFR §300.611

لکه څزنګه چې د **د معلوماتو محرمیت** تر سرلیک لاندې کارول کېږي:

- د Destruction *معنا* له معلوماتو څخه په فزیکي دول د هغو معلوماتو له منځه وړلو یا لرې کولو ته وایي چې د شخص هویت ترې معلومېږي، څکه له دې معلوماتو څخه نور د شخص هویت نه په ډاګه کېږي.
- د زده کړو سوابق هغو سوابقو ته ویل کېږي چې د 34 CFR په 99 مه برخه کې د "زده کړې او سوابق" تر سلیک لاندې راغلي دي (هغه مقررات چې 1974، (FERPA) 20 U.S.C. 1232g د کورنۍ د زده کړو حقونه او د خصوصي حریم قانون پلی کوي)FERPA "زده کړې او سوابق" هغو سوابقو ته وایي چې په مستقیم ډول په یوه زده کوونکي پورې اړوند وي او د یوې تعلیمي ادارې او یا داسې لوري له خوا ساتل کېږي چې د تعلیمي ادارې استازولي کوي.
- Participating agency هر هغې تعلیمي حوزې، ادارې یا بنسټ ته وایي چې د شخص د هویت په ډاګه کوونکي معلومات را ټولوي، ساتي او یا یې کاروي او یا هغې ادارې ته وایي چې د IDEAد B برخې له مخې ترې معلومات ترلاسه شوي وي.

**هغه معلومات چې د شخص هویت په ډاګه کوي**

**34 CFR §300.32**

د *شخصي هویت څرګندوونکي معلومات* یعني هغه معلومات چې لاندې موارد پکې شامل وي:

a. ستاسو د ماشوم نوم، د والدینو په توګه ستاسو نوم، یا د کورنۍ د کوم بل غړي نوم؛

b. ستاسو د ماشوم پته؛

c. د شخص د هویت څرګندوونکی لکه ستاسو د ماشوم د ټولنیز خوندیتوب شمېره یا د زده کوونکي نمبر؛ یا

d. د شخصي ځانګړتیاوو یو لېست یا نور معلومات چې ستاسو په معقول ډاډ سره ستاسو د ماشوم هویت په ډاګه کوي.

**والدینو ته خبرتیا**

**34 CFR §300.612**

د مشیګان د زده کړو ډیپارټمنټ (MDE) باید والدینو ته خبرتیا ورکړي چې MDE داسې پروسېجرونه او پالیسۍ لري چې د هویت څرګندوونکو معلوماتو د محرمیت په اړه والدینو ته د خبرتیا ورکولو له پاره بسنه کوي، د لاندې مواردو په ګډون:

1. د هغې کچې یوه شرحه چې په ایالت کې د نفوس بېلا بېلو ډلو ته د هغوی په اصلي ژبه خبرتیا ورکول کېږي؛

2. د هغو ماشومانو شرحه چې په اړه یې د هویت څرګندوونکي معلومات ساتل کېږي، د پام وړ معلوماتو ډولونه، د معلوماتو راټولولو له پاره د ایالتونو تګلارې (د هغو سرچینو په ګډون چې معلومات ترې ترلاسه کېږي)، او له معلوماتو څخه ګټه اخیستنه؛

3. د پالیسیو او پروسیجرونو یو نچوړ چې ګډون کوونکي ادارې یې باید د هویت د څرګندوونکو معلوماتو په ذېرمه کولو، درېیم لوري ته په ورکولو، ساتلو او له منځه وړلو کې وځاري؛ او

4. د دې معلوماتو په تړاو د والدینو او ماشومانو د ټولو حقونو یوه شرحه، د FERPA تر چتر لاندې حقونو او د 34 CFR په 99 مه برخه کې د پلي کېدونو اصولو په ګډون.

خبرتیا باید د پېژندنې، موقعیت موندنې، یا ارزونې له عمده فعالیتونو څخه وړاندې (د "ماشوم موندنه" یې هم بولي) په ورځپاڼو یا نورو رسنیو کې خپره یا اعلان شي، یا په دواړو کې له مناسب تیراژ سره خپره شي تر څو د ماشومانو د موقعیت موندنې، پېژندنې او ارزونې په تړاو له فعالیتونو څخه د ایالت په سراسر کې والدین خبر شي او په دې توګه د ځانګړو زده کړو او اړوندو خدمتونو له پاره پر شرایطو برابر ماشوم په مشخص شي.

**د لاسرسي حقونه**

**34 CFR §300.613**

ګډون کوونکې اداره باید تاسو ته اجازه درکړي تر څو ستاسو د ماشوم اړوند هر ډول تعلیمي سوابق چې د ګډون کوونکو ادارو له لوري د IDEA د B برخې پر اساس را ټولېږي، ساتل کېږي او یا کارول کېږي هغه وپلټئ او بیا کتنه پرې وکړئ. ګډون کوونکې اداره باید ستاسو له غوښتنې سره سم ستاسو له نا اړین ځنډ پرته ستاسو د ماشوم تعلیمي سوابق وپلټي او بیا کتنه پرې وکړي او دا کار

باید د IEP په اړه له هر ډول لیدني او د اورېدني له هرې بې پرې پروسي څخه مخکې (د ډسیپلین په اړه د تصمیم نیونې د ناستي او یا د اوریدني د لیدنې په ګډون) ترسره کړي، او دا کار باید ستاسو له غوښتنې وروسته 45 تقویمي ورځې ونه ځنډېږي.

د تعلیمي سوابقو د پلټني او پر هغوی د بیا کتني په تړاو ستاسو په حق کې لاندې موارد شاملېږي:

1. ستاسو حق چې ګډون کوونکي اداره د سوابقو د روښانه کولو او تفسیر کولو په اړه ستاسو معقولو پوښتنو ته ځواب ووایي؛
2. که چېرته تاسو د سوابقو د کاپي ګانو له ترلاسه کولو پرته هغه په اغېزناکه توګه پلټلی او بیا کتلی نشئ، نو حق لرئ چې له ګډون کوونکي ادارې څخه د سوابقو د کاپي ګانو غوښتنه وکړئ؛ او
3. تاسو حق لرئ چې سوابق مو یو استازی وپلټي او بیا کتنه پرې وکړي.

ګډون کوونکي اداره بنایي فرض کړي چې تاسو د خپل ماشوم اړوند اسنادو د پلټني او بیا کتني حق لرئ، مګر دا چې تاسو ته توصیه وکړي چې د ایالت د حاکم دولتي قانون له مخې تاسو د قیمومیت، جلا والي او یا طلاق په څېر مسایلو کې صلاحیت نلرئ.

**د لاسرسي سند**

**34 CFR §300.614**

هره ګډون کوونکي اداره باید د هغو لوریو یو سند وساتي چې د IDEA د B برخې پر اساس را ټولو شویو، ساتل شویو او کارول شویو تعلیمي سوابقو ته لاسرسی لري (پرته د والدینو او د ګډونو کوونکي ادارې د با صلاحیته کارکوونکو له لاسرسي څخه)، د لوري د نوم، د لاسرسي د ورکولو د نېټې او د هغې موخې په ګډون چې له مخې یې لوري ته د سوابقو د کارولو اجازه ورکړل شوې وه.

**له یوه څخه د زیاتو ماشومانو سوابق**

**34 CFR §300.615**

که په سوابقو کې له یوه څخه د زیاتو ماشومانو معلومات شامل وي، د دې ماشومانو والدین حق لري چې یوازې د خپل ماشوم اړوند سوابق وپلټي او بیاکتنه پرې وکړي او یا د ټاکل شویو معلوماتو په اړه خبر ورکړل شي.

**د معلوماتو د ډولونو او موقعیتونو لېست**

**34 CFR §300.616**

د غوښتنې په صورت کې باید ګډون کوونکي اداره تاسو ته د هغو تعلیمي سوابقو د ډولونو او موقعیتونو یو لېست درکړي چې د ادارې له لوري را ټول شوي، ساتل شوي او یا کارول شوي دي.

**فیسونه**

**34 CFR §300.617**

هره ګډون کوونکي اداره چې تاسو ته د سوابقو کاپي درکوي د IDEA د B برخې مطابق له تاسو څخه د هغې په بدل کې یوه اندازه فیس اخلي، خو په دې شرط چې یاد فیس تاسو په اغېزناکه توګه د سوابقو د پلټنې او بیاکتنې څخه نه منع کوي.

ښايي ګډون کوونکي اداره د IDEA له B برخي سره سم د معلوماتو د پلټني او بيا ترلاسه کولو په بدل کي فيس وانخلي.

## د والدينو په غوښتنه د سوابقو اصلاح کول

### 34 CFR §300.618

که تاسو باوري ياست چې ستاسو د ماشوم په اړه د IDEA د B برخي تر چتر لاندې را ټول شوي، ساتل شوي او کارول شوي معلومات کره نه دي، ګمراه کوونکي دي، يا ستاسو د ماشوم خصوصي حريم او حقونه نقض کوي، نو تاسو کولای شئ د معلوماتو له ساتونکي ګډون کوونکي ادارې څخه غوښتنه وکړئ تر څو په معلوماتو کې بدلون راوړي.

ګډون کوونکي اداره بايد ستاسو له غوښتني سره سم د غوښتني له ترلاسه کولو وروسته په يوه معقوله زماني دوره کي پرېکړه وکړي چې په معلوماتو کې بدلون راوړي کنه.

که ګډون کوونکي اداره ستاسو له غوښتني سره سم په معلوماتو کي بدلون راوړل رد کړي، نو تاسو ته بايد د ردولو په اړه خبر درکړي او درته ووايي چې تاسو د يوې اورېدنې حق لرئ، لکه څرنګه چې د يوې اورېدنې له پاره فرصت تر سرليک لاندې روښانه شوی دی.

## د يوې اورېدنې له پاره فرصت

### 34 CFR §300.619

ګډون کوونکي اداره بايد د غوښتني په صورت کې تاسو ته ستاسو د ماشوم په تعليمي سوابقو کې د معلوماتو د چلېنج کولو له پاره د اورېدنې يو فرصت چمتو کړي تر څو ډاډ ترلاسه کړئ چې دا معلومات ناکره، ګمراه کوونکي او يا ستاسو د ماشوم د خصوصي حريم او حقونو نقض کوونکي نه دي.

## د اورېدنې پروسېجرونه

### 34 CFR §300.621

په تعليمي سوابقو کې د معلوماتو د چلنج کولو اورېدنه بايد د هغو پروسېجرونو له مخې په لار واچول شي چې د FERPA تر چتر لاندې د دغه ډول اورېدنو له پاره جوړ شوي دي.

## د اورېدنې پايله

### 34 CFR §300.620

که چېرته ګډون کوونکي اداره د اورېدنې د ناستي په پايله کې پرېکړه وکړي چې معلومات ناکره، ګمراه کوونکي او يا ستاسو د ماشوم د خصوصي حريم او يا حقونو نقضوونکي دي، نو په معلوماتو کې بايد بدلون راوړي او تاسو ته په دې اړه په ليکلې بڼه خبر درکړي.

که چېرته ګډون کوونکي اداره د اورېدنې د ناستي په پايله کې پرېکړه وکړي چې دغه معلومات ناکره، ګمراه کوونکي او يا ستاسو د ماشوم د خصوصي حريم او نورو حقونو نقضوونکي نه دي، نو تاسو ته بايد خپل حق څخه خبر کړي چې د خپل ماشوم په سوابقو کې د معلوماتو په اړه تبصره وکړئ او يا هغه دلايل وړاندې کړئ چې له مخې يې تاسو د ګډون کوونکي ادارې له پرېکړې سره مخالفت کوئ.

ستاسو د ماشوم په سوابقو کې دغه ډول ځای پر ځای شوی وضاحت باید:

1. تر هغې پورې باید د ګډون کوونکې ادارې له لوري ستاسو د ماشوم د سوابقو د یوې برخې په توګه وساتل شي چې سوابق او یا د بحث وړ مطالب د ګډون کوونکې ادارې له لوري ساتل کېږي؛ او
2. که چېرته ګډون کوونکې ادارې ستاسو د ماشوم سوابق او یا د معلوماتو چلنج شوې برخه له کوم لوري سره شریک کړي، نو هغه لوري ته باید وضاحت هم ورکړي.

**د شخصي هویت څرګندوونکو معلوماتو د شریکولو رضایت**

**34 CFR §300.622**

مګر دا چې په تعلیمي سوابقو کې د شته شخصي هویت څرګندوونکو معلوماتو خپرول (د والدینو له رضایت پرته) د FERPA له مخې مجاز وي، له با صلاحیته ګډون کوونکو ادارو پرته له نورو لوریو سره د شخصي هویت څرګندوونکو معلوماتو له شریکولو وړاندې باید ستاسو رضایت واخیستل شي. له لاندې مشخصو شویو شرایطو پرته، د ګډون کوونکې ادارې له مسوولینو سره د IDEA د B برخې د یوې اړتیا د بشپړولو په موخه د شخصي هویت د څرګندوونکو معلوماتو له شریکولو مخکې ستاسو رضایت اخیستو ته اړتیا نشته.

ستاسو او یا د هغه ماشوم رضایت چې د ایالت د قوانینو له مخې بلوغ ته رسیدلی وي، باید د لېږد د خدمتونو د وړاندې کوونکې ادارې له مسوولینو سره د شخصي هویت څرګندوونکو معلوماتو تر شریکولو وړاندې واخیستل شي.

که ستاسو ماشوم په داسې خصوصي ښوونځي کې وي او یا غواړې ورشي چې ستاسو د استوګنې په تعلیمي حوزه کې موقعیت نلري، اړینه ده چې د خصوصي ښوونځي د تعلیمي حوزې له مسوولینو او ستاسو د استوګنې د تعلیمي حوزې له مسوولینو سره ستاسو د ماشوم په اړه د شخصي هویت څرګندوونکو معلوماتو له شریکولو مخکې ستاسو رضایت ترلاسه شي.

**خوندیتوبونه**

**34 CFR §300.623**

هره ګډون کوونکې اداره باید د شخصي هویت د څرګندوونکو معلومات محرمیت د هغوی د را ټولولو، ذېرمه کولو، خپرولو او له منځه وړلو په پړاوونو کې وساتل شي.

په هره اداره کې باید یو مسوول کس د شخصي هویت د څرګندوونکو معلوماتو د محرمیت د خوندیتوب مسوولیت پر غاړه واخلي.

ټول هغه کسان چې د شخصي هویت څرګندوونکې معلومات را ټولوي، باید هغوی ته د IDEA د B برخې او FERPA تر چتر لاندې د خصوصي حریم په تړاو د مشېګان د پالیسیو او پروسېجرونو په اړه روزنه ورکړل شي او یا لارښوونه ورته وشي.

هره ګډون کوونکي اداره باید د عامه پلټنې له پاره د هغو کارکوونکو د نومونو او دندو اوسنی لېست چمتو کړي چې له ادارې سره کار کوي او ښایي د شخصي هویت څرګندوونکو معلوماتو ته لاسرسی ومومي.

### د معلوماتو له منځه وړل

### 34 CFR §300.624

د IDEA له B برخې سره سم را ټول شوي، ساتل شوي، او یا کارول کېدونکي د شخصي هویت څرګندوونکي معلومات نور ستاسو د ماشوم له پاره د زده کړه بیزو خدمتونو د ترلاسه کولو له پاره اړین نه دي، نو ستاسو تعلیمي حوزه باید په دې اړه تاسو ته خبر درکړي.

معلومات باید ستاسو د غوښتنې له مخې له منځه یوړل شي. که څه هم ستاسو د ماشوم د نوم، پتې او ټلیفون شمېرې، د هغه/هغې درجې، د سوبتیا سوابق، په ټولګي کې ګډون، د بشپړ شوي ټولګي درجه او د ښوونځي د بشپړولو کال به د وخت له محدودیت پرته د تل له پاره ساتل کېږي.

### د زده کوونکي حقونه

### 34 CFR §300.625

د FERPA د مقرراتو له مخې د تعلیمي سوابقو په اړه د والدینو حقونه ماشوم ته په 18 کلنۍ کې لېږدول کېږي.

د IDEA د B برخې له مخې هم د تعلیمي سوابقو په تړاو د والدینو حقونه ماشوم ته په 18 کلنۍ کې لېږدول کېږي. که څه هم ګډون کوونکې اداره باید زده کوونکي او والدینو ته د خبرتیا ورکړي، لکه څرنګه چې یې د IDEA t په B برخه کې غوښتنه کېږي.

---

## منځګړیتوب

### منځګړیتوب

### 34 CFR §300.506

#### عمومي

MDE داسې پروسېجرونه را منځته کړي دي تر څو منځګړیتوب د لاسرسي وړ وګرځوي چې تاسو او تعلیمي حوزه هر ډول اختلافات د IDEA د B یا C برخې سره سم حل او فصل کړئ، په دې کې هغه موارد شاملېږي چې د ایالتي شکایت له ثبتولو او شکایت ته د رسیدګۍ له پروسې وړاندې را پورته کېږي. منځګړیتوب د لاسرسی وړ دی تر څو د IDEA د B او C برخو سره سم اختلافات پرې هوار شي، که تاسو د اورېدنې د پروسې د غوښتنې له پاره کوم شکایت ثبت کړی وي او یا نه لکه د د **قانوني پروسې له لارې د شکایت ثبتول تر عنوان لاندې چې راغلي دي.**

**اړتیاوې**

دغه پروسېجرونه یقیني کوي چې د منځګړیتوب پروسه:

1. ستاسو او ستاسو د تعلیمي حوزې له لوري په رضاکارانه ډول ده؛
2. د اوربدني د قانوني پروسې په تړاو ستاسو د حق د ردولو او یا ځنډولو، یا ستاسو د نورو حقونو د ردولو له پاره یې نه کاروي چې د IDEA په C برخه کې ذکر شوي دي؛ او
3. د یوه وړ او بې برې منځګړي له لوري ترسره شوې ده چې د منځګړتوب د غوره لارو چارو په اړه یې روزنه ترسره کړې وي.

ښایي تعلیمي حوزه داسې پروسېجرونو ته پراختیا ورکړي چې والدینو او ښوونځیو ته سپارښتنه وکړي چې له نالېواله لوریو سره د منځګړتوب پروسه، د لیدنې یو فرصت، ستاسو له پاره غوره وخت او ځای ونه ټاکي:

1. څوک د اختلافاتو د هوارولو له یوې مناسبې بدیلې ادارې، یا د والدینو د روزنې او معلوماتو له مرکز او یا په ټولنه کې د والدینو د سرچینو له مرکز سره هوکړه لري؛ او
2. هغه څوک چې تاسو ته به د منځګړتوب د پروسې ګټې روښانه کړي او د هغې کارولو ته به مو وهڅوي.

MDE باید د وړو منځګړیو یو لېست وساتي چې د ځانګړو زده کړو او اړوندو خدمتونو پر مربوطه قوانینو او اصولو پوهېږي.
MDE باید منځګړي د پچه اچونې، په دوراني شکل او یا بلې بې پرې پروسې له لارې وټاکل شي.

ایالت د لیدنو په ګډون د منځګړتوب د پروسو د لګښت مسوولیت پر غاړه اخلي. دغه خدمتونه د [Special Education Mediation Services](http://MiKids1st.org) (http://MiKids1st.org) له خوا وړاندې کېږي.

د منځګړتوب په پروسه کې هره لیدنه باید په زماني شکل تنظیم شي او په داسې ځای کې ترسره شي چې ستاسو او د تعلیمي حوزې له پاره آسانه وي.

که تاسو او تعلیمي حوزې یو اختلاف د منځګړتوب له لارې هوار کړ، دواړه لوري باید یو قانوني هوکړه لیک لاسلیک کړي چې پرېکړه لیک منعکسوي او:

1. بیانوي چې د منځګړتوب په پروسه کې ټول ترسره شوي بحثونه محرم پاتې کېږي او د راتلونکو اوربدنو په پروسو او مدني پروسه کې به د سند په توګه و نه کارول شي؛ او
2. ستاسو او د تعلیمي حوزې د هغه استازي له لوري لاسلیک شوی وي چې د تعلیمي حوزې په استازولۍ د هوکړې ترسره کولو صلاحیت لري؛

لیکلی او لاسلیک شوی هوکړه لیک د ایالت په ټولو محکمو کې چې قضایي صلاحیت ولري (هغه محکمه چې د ایالت د قانون له مخې د دغه ډول قضیو د اورېدنې صلاحیت لري) او یا د متحده ایالاتو په حوزوي محکمه کې د اجرا وړ دی.

هغه بحثونه چې د منځګړتوب په پروسه کې ترسره شوي دي باید محرم پاتې شي. دا د فدرال او ایالت په محکمو کې د اوربدني د راتلونکو پروسو او یا مدني پروسو له پاره د سند په توګه کارېدای نشي چې د IDEA له B او C برخې سره سم ایالتي مرستي ترلاسه کوي.

**د منځګړي بې پرېوالی**

منځګړی:

1. به د MDE او هغې تعلیمي حوزې کارکوونکی نه وي چې په زده کړو او د ماشوم په پاملرنه کې ښکېله ده؛ او
2. داسې شخصي او مسلکي ګټې ونلري چې د منځګړي له عینیت سره په ټکر کې وي.

هغه شخص چې د منځګړتوب وړتیا لري، د تعلیمي حوزې او یا ایالتي اداري کارکوونکی نه دی، یوازې په دې دلیل چې هغه د منځګړي په توګه خدمت کوي د ادارې او یا تعلیمي حوزې له لوري پیسې ورکول کېږي.

## د ایالتي شکایت پروسېجر

### اړوند شکایت ته د رسیدګۍ او د ایالتي شکایت د پروسېجرونو تر منځ توپیر

د IDEA د B برخي اصول د ایالتي شکایتونو او د رسیدګۍ د پروسي په اړه د شکایتونو او اورېدني د شکایتونو له پاره جلا جلا پروسېجرونه وړاندې کوي. لکه څرنګه چې لاندې شرحه شول، هر فرد او یا ارګان ښایي یو دولتي شکایت ثبت کړي او تور ولګوي چې تعلیمي حوزې، MDE یا بله عامه اداره د B یا C برخي اړتیاوې نقض کوي. یوازې تاسو او تعلیمي حوزه ښایي د معلولیت لرونکي ماشوم د پېژندني، ارزوني او تعلیمي ځایګاه د پیل او یا بدلون په اړه وړاندیز او یا ردولو او یا ماشوم ته د FAPE د چمتو کولو د مسایلو په تړاو د پروسي شکایت ثبت کړئ. د MDE کارکوونکي باید په عموم کي ایالتي شکایت د 60 تقویمي ورځو په لړ کي هوار کړي، مګر دا چې دغه زماني موده په سمه توګه وغځېږي او ALJ باید د پروسي په اړه شکایت واوري (که د تصمیم نیوني په ناست کي د منځګړي له لوري هوار نشي) او د تصمیم نیوني د دورې له پای ته رسېدو وروسته په 45 تقویمي ورځو کي یوه لیکلې پرېکړه خپره کړي، لکه څرنګه چې په دې سند کي **د د حل او فصل پروسه** تر سرلیک لاندې شرح شوی دی، مګر دا چې ALJ ستاسو او یا د تعلیمي حوزې په غوښتنه زماني جدول په مشخص ډول وغځوي. ایالتي شکایت، د پروسي شکایت، حل او فصل او د اورېدني پروسېجرونه لاندې په بشپړه توګه روښانه شوي دي.

### ایالتي شکایت ته د رسیدګۍ پروسېجرونه

### 34 CFR §300.151

#### عمومي

MDE باید د لاندې مواردو له پاره لیکلي پروسېجرونه ولري (د ځانګړو زده کړو له پاره اداري قوانین وګورئ، Rule 340.1701a، 340.1851-1853 ماده):

1. د هر ایالتي شکایت هوارول، د هغه شکایت په ګډون چې د بل ایالت د یوه بنسټ او یا شخص له لوري ثبت شوی وي؛
2. د شکایت ثبتول.
3. والدینو او نورو لېواله افرادو ته د ایالت په کچه په پراخه سطحه د پروسېجرونو خپرول، د والدینو د روزنو او معلوماتو د مرکزون، د خوندیتوب او وکالت ادارو، د ژوند د خپلواکو مرکزونو او نورو مناسبو بنسټونو په ګډون.

#### د مناسبو خدمتونو د رد له پاره حل لارې

د یوه ایالتي شکایت په هوارولو کي چې MDE د مناسبو خدمتونو په وړاندې کولو کي یکي کومه ناکامي موندلې وي، نو MDE باید لاندې موارد هوار کړي:

1. د مناسبو خدمتونو په وړاندې کولو کي ناکامي، د مناسب اصلاحي عمل په ګډون چې د ماشوم اړتیاوې پوره کړي؛ او
2. په راتلونکي کي د ټولو معلولیت لرونکو ماشومانو له پاره د مناسبو خدمتونو وړاندې کول.

## د ایالتي شکایت حداقل پروسېجر

## 34 CFR §300.152

**د وخت محدودیت؛ حداقل پروسېجرونه**

MDE به د ځانګړو زده کړو د اداري (OSE) له لارې د 60 تقویمي ورځو زماني محدودیت د خپل ایالتي شکایت په پروسېجرونو کې شامل کړي، وروسته له دې چې شکایت ثبت شي په:

1. که MDE تشخیص کړه چې څېړنې ته اړتیا ده، نو په محل کې یوه خپلواکه څېړنه ترسره کړئ.
2. شکایت کوونکي ته فرصت ورکړئ چې په شکایت کې د شته تورونو په اړه اضافي معلومات ورکړي، که هغه په شفاهي یا لیکلي بڼه وي؛
3. تعلیمي حوزې یا بلې دولتي ادارې ته فرصت ورکړئ چې شکایت ته ځواب ورکړي، په ګډون د حداقل: (الف) د ادارې په غوراوي د شکایت د حل کولو له پاره یو وړاندیز؛ او (ب) والدینو ته فرصت ورکول چې شکایت یې ثبت کړی دی او ادارې ته فرصت چې په رضاکارانه ډول د وساطت په پروسه کې ګډون وکړي؛
4. ټول اړوند معلومات وګورئ او یوه خپلواکه پرېکړه وکړئ چې ایا تعلیمي حوزه یا بله دولتي اداره د IDEA د B برخې غوښتنې نقض کوي او کنه؛ او
5. شکایت کوونکي ته لیکلې پرېکړه ورکړئ چې ټولو تورونو ته ځواب وواېي او لاندې موارد پکې شاملېږي: (الف) د حقیقت موندنې او پایلې؛ (ب) د MDEد وروستۍ پرېکړې دلایل.

**د وخت غځول؛ وروستۍ پرېکړه؛ پلي کول**

د MDE پروسېجرونه چې پورته روښانه شول هم باید:

1. د 60 تقویمي ورځو زماني محدودیت یوازې په هغه صورت کې وغځوي چې: (الف) د مشخص ایالتي شکایت په تړاو استثنایي شرایط موجود وي؛ یا (ب) والدین او تعلیمي حوزه یا دولتي اداره چې په رضاکارانه ډول ښکېل ده هوکړه وکړي چې وخت وغځوي تر څو موضوع د منځګړتوب له لارې هواره شي.
2. د اړتیا په صورت کې د MDE د غوره پلي کولو له پاره پروسېجرونه شامل کړئ، د لاندې مواردو په ګډون: (الف) د تخنیکي مرستې فعالیتونه؛ (ب) بحثونه؛ او (ج) د موافقت د ترلاسه کولو له پاره اصلاحي عملونه.

**ایالتي شکایتونه او د اورېدنې پروسې**

که چېرته یو لیکلی ایالتي شکایت ترلاسه کېږي دا همدارنګه د اورېدنې د پروسې موضوع هم ده چې لاندې د **د پروسې په اړه د شکایت ثبتول** تر عنوان لاندې روښانه شوې ده، یا په ایالتي شکایت کې څو ډوله موضوعات شاملېږي چې له هغې ډلې یوه یا ډېرې یې د دغه ډول اورېدنې برخه ده، ایالت باید ایالتي شکایت یا د ایالتي شکایت هره برخه چې د اورېدنې په ناسته کې ورته رسیدګي کېږي، د اورېدنې تر پایه پورې جلا پرېږدي. د ایالتي شکایت هره ستونزه چې د اورېدنې د پروسې یوه برخه نه وي، هغه باید د وخت له محدودې او پورته روښانه شویو پروسېجرونو څخه په استفادې هواره شي.

که چېرته په یوه ایالتي شکایت کې د را ولاړې شوې ستونزې په اړه مخکې د اورېدني په پروسه کې پرېکړه شوې وي چې په دې اورېدنه کې یو شان لوري ښکېل وي (تاسو او تعلیمي حوزه)، نو د اورېدنې د ناستې پرېکړه د دې ستونزې په اړه پلې کېږي او MDE باید شکایت کوونکي ته خبر ورکړي چې پرېکړه پلې کېږي.

یو شکایت چې تعلیمي حوزه او یا بله دولتي اداره د اورېدني د ناستې د پرېکړې په پلې کولو کې په پاتې راتګ تورنوي باید د MDE له لوري هوار شي.

**د ایالتي شکایت ثبتول**

**34 CFR §300.153**

یو ارګان یا شخص کولای شي چې یو لیکلی لاسلیک شوی ایالتي شکایت د پورته شرحه شویو پروسېجرونو له مخې ثبت کړي.

په ایالتي شکایت کې باید لاندې موارد شامل وي:

1. یوه بیانیه چې تعلیمي حوزې یا بلې دولتي ادارې لاندې موارد نقض کړي دي:
   a. د ځانګړو زده کړو له پاره د اوسنیو قوانینو هر ډول اصول؛
   b. 1976 PA 451, MCL 380.1 او له هغې وروسته.، لکه څرنګه چې دا د ځانګړو زده کړو په پروګرامونو او خدمتونو پورې اړه لري؛
   c. د 2004 کال د معلولیت لرونکو اشخاصو له پاره د زده کړو قانون، .20 U.S.C، 33 څپرکی، §1400 او له هغې وروسته.، د قانون د پلي کولو اصول، .34C.F.R، 300 برخه، او .34C.F.R، 303 برخه؛ هغه حقایق چې بیانیه پرې ولاړه ده؛
   d. د منځنی تعلیمي حوزې پلان؛
   e. د فردي زده کړو د پروګرام د ډلي راپور، د اورېدنې د دفتر پرېکړه، یا د ځانګړو زده کړو او خدمتونو په تړاو د محکمې پرېکړه؛ او
   f. د IDEA تر چتر لاندې د فدرال بودیجې له پاره ایالتي نوملیکنه.
2. د شکایت کوونکي لاسلیک او د اړیکي معلومات؛ او
3. د یوه مشخص ماشوم په اړه د تخلفاتو د ادعا په صورت کې
   a. د ماشوم نوم او د هغه د استوګنې پته؛
   b. د هغه ښوونځي نوم چې ماشوم پکې درس وایي؛
   c. د بې کوره ماشوم یا تنکي ځوان په قضیه کې، د ماشوم د اړیکي موجوده معلومات او د هغه ښوونځي نوم چې ماشوم پکې درس وایي؛
   d. د ماشوم د ستونزې د ماهیت یوه شرحه، د ستونزې اړوند حقایقو په ګډون؛ او
   e. ستونزې ته یوه وړاندیز شوې حل لاره تر هغه بریده چې د شکایت د ثبتولو پر مهال د شکایت ثبتوونکي لوري ته معلومه او د لاسرسي وړ وي.

په شکایت کې باید د داسې نقض په اړه ادعا شوې وي چې له پېښېدو یې له یو کال څخه ډېر وخت تېر شوی نه وي، دغه وخت به د MDE یا ISD له لوري د شکایت د ترلاسه کولو له نېټې څخه محاسبه کېږي.

هغه لوری چې شکایت ثبتوي باید د شکایت یوه کاپي تعلیمي حوزې یا بلې دولتي ادارې ته چې ماشوم ته له OSE سره د شکایت ثبتولو سره هم مهاله خدمتونه وړاندې کوي، وسپاري.

MDE د ایالتي شکایت له ثبتولو سره د مرستې له پاره یو نمونوي فورم جوړ کړی دی. نمونوي فورم په [OSE website](http://www.michigan.gov/specialeducation) (www.michigan.gov/specialeducation) کې د لاسرسي وړ دی. تاسو اړ نه یاست چې نمونوي فورم وکاروئ. که څه هم، په شکایت کې باید د ایالتي شکایت د ثبتولو له پاره د اړتیا وړ معلومات شامل وي (پورته 1-4 وګورئ)

## د پروسې په اړه د شکایت پروسیجرونه

### د پروسې د شکایت ثبتول

### 34 CFR §300.507

**عمومي**

تاسو او تعلیمي حوزه بنایي ستاسو د ماشوم د پېژندنې، ارزونې او تعلیمي ځایګاه او یا ستاسو ماشوم ته د FAPE چمتو کولو د پیلولو او یا بدلولو په اړه د وړاندیز او یا ردولو په باب موضوعاتو په اړه د پروسې شکایت ثبت کړئ.

د پروسې شکایت باید د داسې نقض تور ولګوي چې له پېښېدو څخه یې له دوه کلونو څخه زیاته موده نه تېرېږي، دغه موده له هغه وخته راهیسې حسابیږي چې تاسو یا تعلیمي حوزه پرې خبر شوې یاست یا باید خبر شوي واست او ادعا شوی عمل به داسې وي چې د شکایت د پروسې بنسټ جوړوي.

که تاسو په ټاکلې زماني محدوده کې د پروسې شکایت ثبت نکړای شئ، پورتنی زماني محدوده ستاسو له پاره نه پلې کیږي ځکه:

1. په ځانګړې توګه د تعلیمي حوزې په نامه استازولی وویل شول چې ګونډې په شکایت کې شته مسایل یې حل کړي دي؛ یا
2. تعلیمي حوزې هغه معلومات تاسو ته درکړي نه وو چې د IDEA د B او C برخو مطابق یې باید له تاسو سره شریک کړي وای.

**د والدینو له پاره معلومات**

که چېرته تاسو د معلوماتو غوښتنه کوئ، یا تاسو او یا تعلیمي حوزه د پروسې یو شکایت ثبتوئ، نو تعلیمي حوزه باید تاسو په ساحه کې له شته وړیا یا کم لګښته قانوني او نورو اړوندو خدمتونو څخه خبر کړي.

### د پروسې اړوند شکایت

### 34 CFR §300.508

**عمومي**

د اورېدنې د جلسې د غوښتلو له پاره باید تاسو او یا تعلیمي حوزه (یا ستاسو او یا د تعلیمي حوزې وکیل) له MDE سره د پروسې یو شکایت ثبت کړي او یوه کاپي یې بل لوري ته ورکړي. په شکایت کې باید لاندې ټول ذکر شوي موارد شامل وي او باید محرم وساتل شي.

**د شکایت محتوا**

د پروسې په شکایت کې باید لاندې موارد شامل وي:

1. د ماشوم نوم؛
2. د ماشوم د استوګنې د ځای پته؛
3. د ماشوم د ښوونځي نوم؛

4. که ماشوم یا تنکی ځوان بې کوره وي، د ماشوم د اړیکې معلومات او د هغه د ښوونځي نوم؛
5. د ستونزې اړوند حقایقو په ګډون، د وړاندیز شوي یا رد شوي عمل په اړه د ماشوم د ستونزې د ماهیت یوه شرحه؛ او
6. د ستونزې له پاره یوه وړاندیز شوی حل لاره په دومره پیمانه چې په هغه وخت کې تاسو او تعلیمي حوزې ته معلومه او د لاسرسي وړ وي.

**د پروسې پر شکایت د اورېدنې له ناستې وړاندې اړینه خبرتیا**

تر هغې چې تاسو یا تعلیمي حوزه (یا ستاسو او یا د تعلیمي حوزې وکیل) په سمه توګه د پروسې شکایت ثبت نکړئ او پورته ذکر شوي معلومات پکې شامل نه وي، تر هغې پورې به تاسو او یا تعلیمي حوزه د پروسې په اړه اورېدنه و نلرئ. د پروسې شکایت هغه مهال په سمه توګه ثبتېږي چې د MDE او بل لوري له خوا ترلاسه شي.

**د شکایت کفایت**

د دې له پاره چې د پروسې شکایت پر مخ یوړل شي، باید کافي وګڼل شي. د پروسې اړوند شکایت به کافي وګڼل شي (تر څو د منځپانګې پورته اړتیاوې مو بشپړې کړې وي) مګر دا چې د پروسې د شکایت ترلاسه کوونکی لوری (تاسو او یا تعلیمي حوزه) ALJ او بل لوري ته د 15 تقویمي ورځو په لړ کې په لیکلې بڼه خبر ورکړي چې ترلاسه کوونکی لوری باور لري چې د پروسې شکایت پورته ذکر شوې اړتیاوې نه بشپړوي.

ترلاسه کوونکی لوری (تاسو یا تعلیمي حوزه) له ترلاسه کولو وروسته په پنځه کاري ورځو کې د پروسې شکایت ناکافي ګڼي،ALJ باید پرېکړه وکړي چې د پروسې شکایت پورته ذکر شوې غوښتنې بشپړوي که نه، او ژر تر ژره تاسو او تعلیمي حوزې ته په لیکلې بڼه خبر درکړي.

**د شکایت اصلاح کول**

تاسو یا تعلیمي حوزه یوازې په هغه صورت کې په شکایت کې بدلون راوړلای شئ چې:

1. بل لوری بدلونونه په لیکلې بڼه تایید کړي او چانس ورکړل شي چې د پروسې شکایت د حل لارې د یوې ناستې له لوري هوار کړي، چې لاندې روښانه شوی دی؛ یا
2. ALJ د اورېدنې د پروسې له پیل څخه حداکثر پنځه ورځې وړاندې د بدلونونو اجازه ورکړي.

شکایت کوونکی لوری (تاسو او یا تعلیمي حوزه) د پروسې په شکایت کې بدلونونه راوړي، د حل او فصل د ناستې له پاره مهالوېش (د شکایت له ترلاسه کولو وروسته 15 تقویمي ورځې) او د حل او فصل له پاره وخت (د شکایت له ترلاسه کولو وروسته په 30 ورځو کې) پر هغه نېټه بیا پیلېږي چې اصلاح شوی شکایت پکې ثبت شوی دی.

**د پروسي شکایت ته د تعلیمي حوزې ځواب**
که چېرته تعلیمي حوزې تاسو ته ستاسو د پروسي په شکایت کې د مندرجې موضوع په اړه له مخکې نه لیکلي خبرتیا نه وي در استولي، لکه دله **مخکې لیکلي خبرتیا** تر عنوان لاندې چې روښانه شوه، نو تعلیمي حوزه باید د شکایت له ترلاسه کېدو وروسته په لس تقویمي ورځو کې تاسو ته یو ځواب در واستوي چې په هغه کې لاندې موارد موجود وي:

1. یو وضاحت چې ولې تعلیمي حوزې د پروسي په شکایت کې د را پورته شوي عمل د ترسره کولو وړاندیز وکړ او یا یې هغه رد کړ؛
2. د هغو غوراویو یوه شرحه چې ستاسو د ماشوم د IEP ډلې په پام کې نیولي دي او دلایل چې ولې هغه غوراوي رد شوي وو؛
3. د ارزونې د هر پروسېجر، ارزونې، سوابقو او یا هغه راپور شرحه چې تعلیمي حوزې د وړاندیز شوي او یا رد شوي اقدام د بنسټ په توګه کارولې ده؛ او
4. د هغو نورو فکتورونو یوه شرحه چې د تعلیمي حوزې له لوري له وړاندیز شوي او یا رد شوي اقدام اړوند وي.

په پورته 1-4 برخه کې د معلوماتو چمتو کول تعلیمي حوزه له دې ادعا څخه نشي منع کولای چې ووایي ستاسو د پروسي شکایت ناکافي دی.

**د پروسي شکایت ته د بل لوري ځواب**
لکه پورته چې د **پروسي شکایت ته د تعلیمي حوزې ځواب** تر ځانګیز عنوان لاندې روښانه شوه له دې پرته، هغه لوری چې د پروسي شکایت ترلاسه کوي، باید د شکایت له ترلاسه کولو وروسته په 10 تقویمي ورځو کې بل لوري ته ځواب واستوي چې په شکایت کې مندرجې موضوع ته رسیدګي کوي.

**نمونوي فورمونه**

**34 CFR §300.509**
MDE نمونوي فورم ته پراختیا ورکړې ده تر څو له تاسو سره د پروسي د شکایت په ثبتولو کې مرسته وکړي. تاسو اړ نه یاست چې د MDE نمونوي فورم وکاروئ. که څه هم د پروسي په شکایت کې باید د پروسي د شکایت د بشپړولو له پاره اړین معلومات موجود وي. نمونوي فورم په OSE website (www.michigan.gov/specialeducation) کې د لاسرسي وړ دی.

(یادښت: که چېرته مقابل لوری د شکایت پر کفایت نیوکه ولري، نو د نمونوي فورم کارول دا تضمین نشي کولای چې ALJ به شکایت کافي وګڼي.)

**د پروسي د شکایت او اورېدنې د پروسي د ځنډېدو پر مهال د ماشوم ځای ځایګاه**

**34 CFR §300.518**
پرته له دې چې د **د معلولیت لرونکو ماشومانو د تنبیه پروسیجرونه** تر سرلیک لاندې وړاندې شو، کله چې د پروسي په اړه شکایت له MDE سره ثبت شو او بل لوري ترلاسه کړ، ستاسو ماشوم باید د حل لارې د موندلو د پروسي په زماني دوره کې په خپل تعلیمي ځایګاه کې پاتې شي، او همدارنګه کله چې د اورېدنې د بې پرې ناستې پرېکړې او یا د محکمې پروسي ته په تمه وي، مګر دا چې تاسو او ایالت یا تعلیمي حوزه پر کوم بل څه هوکړه وکړئ.

که چېرته د پروسي په شکایت کې دولتي ښوونځي ته لومړنی نوملیکنه شامله وي، ستاسو ماشوم باید ستاسو په رضایت په منظم دولتي پروګرام کې تر هغه وخته پورې ځای پر ځای شي چې دغه رسیدګي پای ته ورسېږي.

که چېرته د پروسي شکایت د هغه ماشوم له پاره د IDEA د B برخي د خدمتونو اړوند وي چې د IDEA د C له برخي د IDEA د B برخي ته لیږدول کېږي او تر دې وروسته د C برخي د خدمتونو له پاره وړ نه ګڼل کېږي، ځکه ماشوم درې کلن شوی دی، او تعلیمي حوزه اړه نه ده چې ماشوم ته د C برخي خدمتونه چمتو کړي چې هغه ترلاسه کول. که چېرته ماشوم د ADEA د B برخي د خدمتونو له پاره پر شرایطو وړ وګڼل شي او تاسو د ماشوم له پاره رضایت ورکوئ چې د لومړي ځل له پاره ځانګړې زده کړې او اړوند خدمتونه ترلاسه کړي، نو تعلیمي حوزه باید د پروسي پایلو ته په تمې هغه ځانګړې زده کړې او اړوند خدمتونه وړاندې کړي چې د مناقشي وړ نه دي (هغه چې تاسو او تعلیمي حوزه دواړه پرې هوکړه کوئ).

## د تصمیم نیوني پروسه

## 34 CFR §300.510

### د تصمیم نیوني ناسته

تعلیمي حوزه باید له تاسو او د IEP ډلي له هغه اړوند غړي یا غړیو سره د تصمیم نیوني یوه ناسته چمتو ترسره چې ستاسو د شکایت په پروسه کې د شته حقایقو په اړه بشپړه پوهه لري. د تصمیم نیوني ناسته باید له MDE سره د پروسي د شکایت له ثبتېدو او د تعلیمي حوزې له لوري له ترلاسه کېدو وروسته، په 15 کاري ورځو کې ترسره شي. تر هغې چې د تصمیم نیوني ناسته ترسره نشي د پروسي د شکایت د اورېدني ناسته نشي ترسره کېدای. لیدنه:

1. په لیدنه کې باید د تعلیمي حوزې یو استازی ګډون ولري چې د تعلیمي حوزې په استازولی د تصمیم نیوني صلاحیت ولري؛ او
2. تر هغې چې له تاسو سره یو وکیل نه وي، تر هغې پورې د تعلیمي حوزې وکیل ګډون نشي کولای.

تاسو او تعلیمي حوزه د IEP ډلي اړوند غړي په ناسته کې د ګډون له پاره تعیینوئ.

ستاسو له پاره د ناستي موخه دا ده چې ستاسو د پروسي د شکایت او هغو حقایقو په اړه بحث وشي چې د شکایت بنسټ جوړوي، ځکه تعلیمي حوزه دا فرصت لري تر څو اختلاف حل کړي.

د تصمیم نیولو ناستي ته اړتیا نشته که چېرته:

1. تاسو او تعلیمي حوزې په لیکلي بڼه هوکړه کړې وي چې د ناستي له ترسره کولو لاس په سر شئ؛ یا
2. تاسو او تعلیمي حوزې هوکړه کړې وي چې د منځګړتوب له پروسي څخه ګټه واخلئ، لکه څرنګه چې د **منځګړتوب** تر سرلیک لاندې روښانه شو.

**د تصمیم نیونې دوره**
که چېرته تعلیمي حوزه د شکایت له ترلاسه کولو وروسته په 30 تقویمي ورځو کې ستاسو شکایت ستاسو په خوښه حل نکړي (د تصمیم نیونې د پروسې په موده کې)، کېدای شي چې د شکایت د اورېدو پروسه ترسره شي.

د وروستی پرېکړې د صادرولو لپاره د 45-تقویمي-ورځو مهال ویش د 30-تقویمي-ورځو تصمیم نیولو دورې پای ته رسېدو سره پیل کیږي، د 30-تقویمي-ورځو تصمیم نیولو د دورې ته د تعدیلاتو لپاره له ځینو استثناوو سره، لکه څنګه چې لاندې تشریح شوي.

پرته له دې چې تاسو او تعلیمي حوزه دواړه د حل پروسې معاف کولو یا د منځګړیتوب کارولو موافقه کړې وي، د حل په غونډه کې په ګډون کولو کې ستاسو پاتې راتلل به د حل پروسې او د پروسې اورېدلو لپاره مهال ویش وځنډوي تر څو چې تاسو په ناسته کې برخه نه اخلئ.

که له معقولو هڅو او د داسې هڅو له مستندولو وروسته، تعلیمي حوزه ونه توانیږي چې د پرېکړې په غونډه کې ستاسو ګډون ترلاسه کړي، تعلیمي حوزه کولی شي، د 30-تقویمي ورځې د پرېکړې دورې په پای کې، له ALJ نه غوښتنه وکړي چې ستاسو د شکایت پروسه رد کړي. د دغه ډول پروسې په مستندولو کې د تعلیمي حوزې د هڅو یو سند شامل کړای شي تر څو یو توافق شوی ځای او وخت ترلاسه شي، لکه:

1. د ترسره شویو ټلیفوني اړیکو او د هغوی د هڅو او د هغوی د پایلو د سندونو جزئیات؛
2. د هغو لیکونو کاپي چې تاسو ته در استول شوې دي او د هغوی ترلاسه شوي ځوابونه؛ او
3. د هغو لیدنو بشپړ ریکارډونه چې ستاسو په کور یا کار ځای کې ترسره شوي دي او د هغوی پایلې.

که چېرته تعلیمي حوزه ونکړای شي چې د تصمیم نیولو ناسته ستاسو د شکایت د خبرتیا له ترلاسه کولو وروسته په 15 تقویمي ورځو کې ترسره کړي، یا د تصمیم نیولو په ناسته کې ګډون ونکړای شي، نو تاسو کولای شئ چې له ALJ څخه وغواړئ تر څو د اورېدنې 45 ورځنۍ دوره پیل کړي.

**د تصمیم نیونې په 30 ورځنۍ دوره کې د اصلاحاتو راوستل**
که تاسو او تعلیمي حوزه پر دې هوکړه وکړئ چې د تصمیم نیونې ناسته نه ترسره کوئ، د اورېدنې د پروسې له پاره 45 ورځنۍ دوره په راتلونکې ورځ پیلېږي.

د منځګړیتوب یا د حل غونډې له پیل څخه وروسته او د 30-تقویمي-ورځو د حل دورې پای ته رسېدو دمخه، که تاسو او تعلیمي حوزه په لیکلي ډول موافق یاست چې هیڅ ډول موافقه ممکنه نه ده، د 45-تقویمي-ورځو مهال ویش د اورېدنې پروسې لپاره بله ورځ پیل کیږي.

که تاسو او تعلیمي حوزه د منځګړیتوب پروسې کارولو سره موافق یاست، د 30-تقویمي-ورځو د حل دورې په پای کې، دواړه خواوې کولی شي په لیکلي ډول موافقه وکړي چې منځګړیتوب ته دوام ورکړي تر څو چې یوې موافقې ته ورسیږي. که څه هم، که تاسو یا تعلیمي حوزه وروسته د منځګړیتوب له پروسې څخه وګرځئ، د 45-تقویمي-ورځو مهال ویش د مناسبې پروسې اوریدلو لپاره بله ورځ پیل کیږي.

**د حل لیکلي هوکړه**

که چېرته د تصمیم نیولو په ناسته کې اختلاف ته حل لاره وموندل شوه، تاسو او تعلیمي حوزه باید یو حقوقي هوکړه لیک لاسلیک کړئ چې:

1. ستاسو او یا ستاسو د استازي له لوري او یا د تعلیمي حوزې او یا د هغې د استازي له لوري لاسلیک شوی وي او دا استازی د حوزې په استازولی د هوکړې د لاسلیک صلاحیت ولري؛ او
2. په هره ایالتي محکمه کې د پلي کېدو وړ ده چې قضایي صلاحیت ولري (هغه ایالتي محکمه چې د دغه ډول قضیو د اورېدو صلاحیت ولري) او یا د متحده ایالاتو په حوزوي محکمه کې.

**د هوکړې د بیا کتنې دوره**

که چېرته تاسو او تعلیمي حوزه د تصمیم نیونې د ناستې په پایله کې یوې هوکړې ته سره ورسېږئ، هر لوری (تاسو او یا تعلیمي حوزه) کولای شي د هوکړې له لاسلیک وروسته په 3 کاري ورځو کې هغه رد یا باطل کړي.

## د پروسي د شکایت د اورېدني ناسته

### د پروسي بې پرې اورېدنه

### 34 CFR §300.511

**عمومي**

کله چې د پروسي شکایت ثبتېږي، تاسو او تعلیمي حوزه چې اختلاف لرئ باید د یوې بې پرې اورېدني فرصت ولرئ، وروسته له لاندې شرحه شویو پروسېجرونو څخه د **پروسې شکایت** او د تصمیم **پروسه** برخي.

**د اداري قانون بې پرې قاضي**

لږ تر لږه یو، ALJ:

1. به د MDE او هغي تعلیمي حوزې کارکوونکی نه وي چې په زده کړو او د ماشوم په پاملرنه کې ښکېله ده. که څه هم یو کس د یوې اداري کارکوونکی نه وي، مګر دا چې هغه ته د اداري له لوري د خدمت په بدل کې د ALJ په توګه پیسې ورکول کېږي؛
2. باید داسې شخصي او یا مسلکي ګټه ونلي چې د ALJ له اورېدني له عینیت سره په ټکر کې وي؛
3. باید د IDEA مفاداتو پر معیارونو پوه وي، د IDEA په تړاو پر فدرال او ایالتي اصولو او د فدرال او ایالتي محکمو له لوري د IDEA پر حقوقي تفسیر پوه وي؛ او
4. باید د اورېدني د ناستي د ترسره کولو پوهه او وړتیا ولري او داسې لیکلي پرېکړې وکړای شي چې له مناسب قانوني معیار سره سمون ولري.

ALJ د ملکي خدمتونو له پاره د دولت ډلبندي شوي کارکوونکي دي، دوی د اداري اورېدنو او اصولو (SOAHR) له پاره د دولتي اداري استازي او د هغوی له لوري ګومارل شوي دي.MDE (د SOAHR له لارې) یو لېست ساتي چې د هغو کسانو وړتیاوې پکې لیکل شوې دي چې د ALJ په توګه کار کوي.

**د پروسي د اورېدني موضوع**

لوری (تاسو او یا تعلیمي حوزه) چې د پروسي له پاره د اورېدني غوښتنه کوي، هغه به د اورېدني په پروسې کې داسې مسایل را پورته نکړي چې د پروسي په شکایت کې حل شوي نه وو، مګر دا چې بل لوری ورسره موافقه وکړي.

**د اورېدنې له پاره د غوښتنې مهالویش**

تاسو یا تعلیمي حوزه باید له هغي نېټي څخه وروسته د دوه کلونو په لړ کې د پروسي شکایت ثبت کړئ چې تاسو او یا تعلیمي حوزه پر دې پوه شوئ یا باید پوه شئ چې مسأله (مسایل) په شکایت کې حل شوي دي.

**په مهالوېش کې استثناوې**

پورته مهالوېش پر تاسو نه پلی کېږي او تاسو نشئ کولای د پروسې یو شکایت ثبت کړئ، ځکه:

1. د تعلیمي حوزې له لوري په ناسمه توګه داسې ویل شوي دي چې ګوندې هغه ستونزه یا مسأله یې هواره کړې ده چې تاسو په خپل شکایت کې را پورته کړې وه؛ یا
2. تعلیمي حوزې هغه معلومات تاسو ته درکړي نه وو چې د IDEA د B او C برخو مطابق یې باید له تاسو سره شریک کړي وای.

**د اورېدنې حقونه**

**34 CFR §300.512**

**عمومي**

د پروسې د شکایت د اورېدنې هر لوری (د انطباطی پروسیجرونو اړوند اورېدنو په ګډون) حق لري تر څو:

1. د یوه وکیل له لوري یې ملتیا وشي او لاربنوونه ورته وشي او یا د داسې کس له لوري ورسره مرسته وشي چې د ماشومانو د معلولیتونو په اړه ښه پوهه ولري او روزنه یې لیدلې وي؛
2. د شواهدو او مقابلې وړاندې کول، بیا پلټنه، د زور شاهدي؛
3. په اورېدنه کې د هر ډول شواهدو وړاندې کول چې لوري ته لږ تر لږه له اورېدنې څخه پنځه کاري ورځې وړاندې نه وي ور کړل شوي، منع کوي
4. د اورېدنې لیکلی او یا ستاسو په خوښه برېښنایي، کلیمه په کلیمه ریکارډ ترلاسه کړي؛ او
5. د حقایقو د موندنو په لیکلې بڼه او یا ستاسو په خوښه په برېښنایي ډول ترلاسه کول او پرېکړې.

**د معلوماتو اضافي ډاګیز کول**

د پروسې د اورېدنې له ناستې څخه لږ تر لږه پنځه کاري ورځې مخکې باید تاسو او تعلیمي حوزه یو بل ته ټولې په نېټه بشپړې شوې ارزونې او پر هغو ارزونو ولاړې سپارښتنې له یو بل سره شریکې کړئ چې تاسو او یا تعلیمي حوزه غواړئ په اورېدنه کې یې وکاروئ.

هر لوری چې دغه الزامیت نه رعایت کوي، ښایي ALJ هغه د اورېدنې په ناسته کې د بل لوري له رضایت څخه پرته د اړوندې ارزونې یا وړاندیز کولو څخه منع کړي.

**په اورېدنو کې د والدینو حقونه**

تاسو ته باید حق درکړل شي تر څو:

1. خپل ماشوم له ځان سره ولرئ؛
2. اورېدنه د عامو خلکو پر مخ خلاصه کړئ؛ او
3. د اورېدنې سوابق، د حقیقت موندنې او پرېکړه درته په وړیا ډول چمتو کړای شي.

## د اورېدني پرېکړې

## 34 CFR §300.513

**د اداري قانون د قاضي پرېکړه**
دا چې ستاسو ماشوم FAPE ترلاسه کړې ده کنه په دې اړه د ALJ قاضي پرېکړه باید پر بنسټيزو دلایلو ولاړه وي.

په داسې مسایلو کې چې د روندي سرغړونې تور لګوي، یو ALJ ښایي ومومي چې ستاسو ماشوم FAPE ترلاسه کړې نه ده یوازې په هغه صورت کې چې روندي بې کفایتی:

1. FAPE ته ستاسو د ماشوم د حق مانع کېږي؛
2. چې ستاسو د ماشوم له پاره د FAPE د چمتو کولو په تړاو د تصمیم نیولو په پروسه کې ستاسو د ګډون ممانعت کوي؛ یا
3. چې له یوې تعلیمي ګټې څخه د محرومیت لامل شوی وي.

**د رغوني قضیه**
یو له پورته مواردو هم نشي کولای ALJ قاضي د تعلیمي حوزې په اړه له امر کولو څخه را وګرځوي تر څو د IDEA د B برخې (34 CFR §§300.500 through 300.536) تر چتر لاندې د فدرال اصولو د روندي خونديتوبونو د برخې له اړتیاوو سره سمون وکړي.

**د روندي پروسې د اورېدني له پاره جلا غوښتنه**
څو د IDEA د B برخې (34 CFR §§300.500 through 300.536) تر چتر لاندې د فدرال اصولو د روندي خونديتوبونو د برخې له مخې هېڅ شی هم داسې نشي تعبیرېدای تر څو تاسو له مخکې ثبت شوي شکایت څخه د جلا موضوع په اړه د پروسې د شکایت له ثبتولو څخه را وګرځوي.

**سلاکار پلاوي او عام خلکو ته موندني او پرېکړه**
MDE باید د شخصي هویت د څرګندوونکو معلوماتو له حذفولو څخه وروسته:

1. د پروسې د اورېدو په جلسه کې موندنې او پرېکړې د ایالت له ځانګړې روزل شوې سلاکارې کمیټې سره شریکې کړي؛ او
2. هغه موندنې او پرېکړې د عامو خلکو له پاره د لاسرسي وړ وګرځوي.

## غوښتني

### د پرېکړې وروستی والی؛ غوښتنه بې پرې بیاکتنه

### 34 CFR §300.514

**د اورېدنې د پرېکړې وروستی والی**
هغه پرېکړه چې د پروسې د اورېدو په جلسه کې وشي (د هغې اورېدنې په ګډون چې د انضباطی پروسېجر په اړه وي)، هغه وروستۍ پرېکړه ده، پرته له دې چې په اورېدنه کې ښکېل لوری (تاسو یا تعلیمي حوز) ښایي د مدني اقدام په لو سره د پرېکړې په اړه د بیاکتني غوښتنه وکړي، لکه ښکته چې روښانه شوی ده.

### د اورېدنې د ناستو مهالوېشونه او آسانتیاوې

### 34 CFR §300.515

MDE باید ډاډ حاصل کړي د تصمیم نیوني د ناستو د 30 ورځنۍ مودې له پوره کېدو وروسته حد اکثر په 45 تقویمي ورځو کې او یا حد اکثر په 45 تقویمي ورځو کې د تنظیم شوې دورې تر ختمېدو وروسته لکه څرنګه چې تر **د تصمیم نیولو د 30 تقویمي ورځو د دورې ترتیبات:** عنوان لاندې روښانه شوه.

1. په اورېدنه کې یوه وروستۍ پرېکړه وشي؛ او
2. د پرېکړې یوه کاپي هر لوري ته استول شوې ده.

ښایي ALJ له 45 ورځنۍ دورې څخه ور ها خوا لکه پورته چې روښانه شوه، په وخت کې مشخص زیاتوالی راولي، البته د یوه لوري په غوښتنه.

د اورېدنې هره ناسته باید په داسې وخت او ځای کې ترسره شي چې ستاسو او ستاسو د ماشوم له پاره په معقول ډول د قناعت وړ وي.

### مدني اقدامات، د هغې زماني دورې په ګډون چې دغه اقدامات پکې وارد شي

### 34 CFR §300.516

**عمومي**
هر لوری (تاسو او یا تعلیمي حوزه) چې د پروسې د اورېدنې د ناستې له موندنو او پرېکړې سره موافق نه وي (د انضباطی پروسېجرونو اړوند د یوې اورېدنې په ګډون) حق لري چې د پروسې د اورېدنې له موضوع سره په تړاو یو مدني اقدام راوړي. دغه اقدام ښایي ایالتي محکمې ته راوړل شي چې قضایي صلاحیت لري (یوه ایالتي محکمه چې د دغه ډول قضیو د اورېدنو صلاحیت لري) او یا د متحده ایالاتو په یوه حوزوي محکمه کې د اختلاف کچې ته په نه پام سره حل شي.

**د وخت محدودیت**

هغه لوری (تاسو او یا تعلیمي حوزه ) چې اقدام راوړي د ALJ له پرېکړې وروسته د مدني اقدام د درج کولو له پاره باید 90 تقویمي ورځې ولري.

**اضافي پروسېجرونه**

په هر مدني اقدام کې محکمه:

1. د اداري رسیدګیو سوابق ترلاسه کوي؛
2. ستاسو او یا د تعلیمي حوزې په غوښتنه اضافي شواهد اوري؛ او
3. خپله پرېکړه د شواهدو د پیاوړتیا پر بنسټ کوي او هغه رفاه ورکوي چې محکمه یې مناسبه ګڼي.

**د حوزوي محکمو صلاحیت**

د متحده ایالاتو حوزوي محکمه صلاحیت لري چې د IDEA د Bبرخې سره سم د اختلافاتو کچې ته له پام پرته هغه هوار کړي.

**د رغوني قانون**

د IDEA په B برخه کې هېڅ شی حقوق، پروسېجرونه او حل لارې نه محدودوي چې د متحده ایالاتو د اساسي قانون، د معلولیت لرونکو امریکایانو له پاره د 1990 کال قانون، د 1973 کال د توانبخشی د قانون د پنځم عنوان (504) برخې، او د معلولیت لرونکو ماشومانو د ملاتړ نورو فدارلي قوانینو کې راغلي دي. په دې کې هغه اقدام نه راځي چې مخکې د دغو قوانینو له مخې ثبت شوی وي او د هوساینې غوښتنه کوي، چې هغه هم د IDEA په B برخه کې د لاسرسي وړ دی. د پروسې د شکایت پروسېجرونه چې پورته شرحه شول باید په هماغه اندازه بشپړ کړای شي چې اړتیا یې وي، که چېرته د IDEA د B په برخه کې کوم درج کړی وي. دا په دې معنا ده چې تاسو ښایي د نورو قوانینو له مخې حل لارې ولرئ چې له دې قوانینو سره ورته والی ولري او د IDEA تر چتر لاندې د لاسرسي وړ وي، مګر په ټوله کې د دې له پاره چې د هغو نورو قوانینو تر چتر لاندې هوساینه ترلاسه کړئ، تاسو باید لومړی له اوسنیو شته حل لارو څخه ګټه واخلئ چې د IDEA تر چتر لاندې د لاسرسي وړ دي (د بېلګې په توګه، د پروسې شکایت، د تصمیم نیونې ناسته، او د پروسې د شکایت په اړه بې پرې اورېدنې پروسېجرونه) مخکې له دې چې په مستقیم ډول محکمې ته ولاړ شئ.

**د وکیل فیس**

## 34 CFR §300.517

**عمومي**

هر اقدام یا رسیدګې چې د IDEA تر B برخې لاندې ترسره کېږي، که تاسو ګټونکي شئ، ښایي محکمه په خپل صلاحیت سره د وکیل معقول فیس تاسو ته د لګښتونو د یوې برخې په توګه تعیین کړي.

هر اقدام یا رسیدګې چې د IDEA تر B برخې لاندې ترسره کېږي، که تاسو ګټونکي شئ، ښایي محکمه په خپل صلاحیت سره د وکیل معقول فیس د لګښتونو د یوې برخې په توګه یوې ګټونکې دولتي اداري او یا تعلیمي حوزې ته تعیین کړي، تر څو ستاسو د وکیل له لوري تادیه شي، که چېرته وکیل: (الف) په محکمه کې یو شکایت یا قضیه درج شوې وي چې محکمې هغه بې بنسټه بللې وي، یا (ب) وروسته له دې چې دعوه په څرګنده توګه بې ګټې، غیر معقوله او بې بنسټه وګڼل شوه؛ یا

هر اقدام یا رسیدګي چې د IDEA تر B برخې لاندې ترسره کېږي، که تاسو ګټونکې شئ، ښایي محکمه په خپل صلاحیت سره د وکیل معقول فیس د لګښتونو د یوې برخې په توګه یوې ګټونکې دولتي تعلیمي اداري یا تعلیمي حوزې ته ورکړي، تر څو ستاسو او یا ستاسو د وکیل له لوري تادیه شي، که چېرته د پروسې د شکایت د اورېدنې د ناستې او یا د محکمې د وروسته قضیې په اړه ستاسو غوښتنه د کومې نامناسبې موخې له پاره وړاندې شوه لکه د مزاحمت را منځته کول، د غیر ضروري ځنډ را منځته کول، او یا د عمل او یا رسیدګی په لګښت کې د غیر ضروري زیاتوالي راوستل.

**د فیسونو ورکړه**

محکمه د وکیلانو فیسونه په لاندې ډول ورکوي:

1. فیسونه باید په هغه ټولنه کې د رایجو نرخونو پر بنسټ وي چې په هغې کې د خدمتونو د ډول او یا کیفیت له پاره عمل او یا اورېدنه ترسره شوې وي. د ورکړل شویو فیسونو په محاسبه کې به انعامونه او ضریبونه کارول کېدای نشي.
2. فیسونه او اړوند لګښتونه ښایي د IDEA د B برخې تر چتر لاندې په هر ډول اقدام او یا پروسه کې د هغو خدمتونو له پاره ښایي ور نکړل شي او بیا ادا نشي چې د ځای پر ځای کولو له لیکلي وړاندیز څخه وروسته ترسره شوي وي، که چېرته:
    a. چې وړاندیز د مدني پروسیجرونو په اړه د فدرال قوانینو د 68 مادې له مخې ټاکل شوي زماني مهال وېش کې ترسره شوي وي، یا د شکایت د اورېدنې د پروسې پر مهال شوی وي، دا که هر وخت وي خو د پروسې له پیل څخه له 10 ورځو څخه وړاندې؛
    b. وړاندیز په 10 تقویمي ورځو کې دننه نه منل کېږي؛ او
    c. محکمه یا ALJ ومومي هغه سهولت چې تاسو د وروستي ځل له پاره ترلاسه کړی دی ستاسو له پاره د ځای پر ځای کولو له وړاندیز څخه ډېر محبوب نه دی.

د محدودیتونو په شتون کې، ستاسو د برې او د ځای پر ځای کولو د وړاندیز د ردولو په صورت کې ښایي د وکیلانو فیسونه او اړوند لګښتونه تاسو ته در وکړځي.

3. د IEP ټیم د اړوندو ناستو فیسونه ښایي ورنکړل شي، مګر دا چې دغه ناستې د اداري پروسیجر له مخې او یا د محکمې د اقدام په پایله کې ترسره شي.
4. د منځګړتوب له پاره به هم فیس ورنکړل شي، لکه څرنګه چې د **منځګړتوب** تر سرلیک لاندې روښانه شوه.
5. د تصمیم نیونې ناسته، لکه څرنګه چې د **د وضاحت ناسته** تر سرلیک لاندې روښانه شوه، داسې ناسته نه ګڼل کېږي چې دا د ې اداري اورېدنې او یا د محکمې د اقدام په پایله کې ترسره شوې وي، او داسې اداري اورېدنه او یا د محکمې اقدام هم نه ګڼل کېږي چې د وکیلانو د فیسونو د چمتو کولو په موخه ترسره شوې وي.

محکمه په مناسبه توګه د وکیلانو فیسونه کموي چې د IDEA د B برخې پر بنسټ ورکول کېږي، که چېرته محکمه ومومي چې:

1. تاسو او یا ستاسو استازي د پروسې د عمل په دوره کې په غیر معقول ډول د اختلاف وروستی حل ځنډولی دی؛

2. د وکیلانو د فیس اندازه چې په نامعقول ډول ورکول کېږي، په ټولنه کې د هغو وکیلانو له لوري د ورته خدمتونو د وړاندې کېدو په صورت کې چې نسبتاً سره ورته مهارتونه، شهرت او تجربه ولري، ساعتوار فیس يې زیاتېږي.

3. چې لګول شوی وخت او وړاندې شوي خدمتونه د عمل او یا پروسې څرنګوالي ته په کتو سره ډېر وي؛ یا

4. هغه وکیل چې ستاسو استازولي کوي د پروسې د شکایت په خبرتیا کې یې تعلیمي حوزې ته مناسب معلومات نه وو ورکړي، لکه د د **پروسې شکایت** تر سرلیک لاندې چې روښانه شوی دی.

که څه هم، که چېرته محکمه ومومي چې ایالت او یا تعلیمي حوزې د اقدام یا پروسې وروستی حل په نامعقول ډول ځنډولی دی او یا د IDEA د B برخې د روندې خوندیتوبونو له مفاداتو څخه سرغړونه شوې ده، نو محکمه به فیسونه کم نکړي.

## د معلولیت لرونکو ماشومانو د تنبیه پروسیجرونه

### د ښوونځي د پرسونل صلاحیت

### 34 CFR §300.530

**قضیه په قضیه تشخیص**

د ښوونځي پرسونل کولی شي د قضیې پر اساس هر ډول ځانګړي شرایط په پام کې ونیسي، کله چې دا معلومه کړي چې آیا د ځای پر ځای کولو بدلون، د نظم اړوند لاندې اړتیاوو سره سم ترسره شوی، د معلولیت لرونکي ماشوم لپاره مناسب دی چې د ښوونځي د زده کوونکي د چلن له اصولو یې سرغړونه کړې ده.

**عمومي**

دا چې هغوی دغه ډول تصمیم روغو زده کوونکو په اړه هم نیسي، نو د ښوونځي پرسونل کولای شي په یو وار معلول ماشوم چې له اصولو یې سرغړونه کړې وي له **10 د ښوونځي ورځي** ورځو څخه د ډېرې مودې له پاره له خپل ځای څخه یو بل مناسب موقتي بدیل تعلیمي چاپېریال، یو بل ځای ته ولېږدوي او یا یې تعلیق کړي. د ښوونځي پروسنل همداراز کولای شي چې هغه د حداکثر **10 د ښوونځي ورځي** نورو ورځو له پاره هم له ښوونځي منع کړي، البته په هماغه یوه تعلیمي کال کې د جلا جلا پېښنو له پاره، خو په دې شرط چې دغه لرې کول به د ځای د بدلون په منزله نه وي (وګورئ **د انظباطي حذفولو له امله په ځایګاه کې بدلون** د لاندې تعریف له پاره).

کله چې یو معلول ماشوم له خپل اوسنی ځایګاه څخه په یوه تعلیمي کال کې د **10 د ښوونځي ورځي** ورځو له پاره لرې شو، نو تعلیمي حوزه باید په هماغه تعلیمي کال کې د راتلونکو حذفي ورځو له پاره د **خدمتونه** تر سرلیک لاندې خدمتونه ورته وړاندې کړي.

**اضافي صلاحیت**

که چېرته هغه سلوک چې د ماشوم د چلن له اصولو پرې سرغړونه شوې ده، د ماشوم د معلولیت مظهر نه و (وګورئ د **ظهور تعیین** لاندې) او د ځایګاه انظباطي بدلون په یوه ځل له **10 د ښوونځي ورځي** څخه ډېرېده، د ښوونځي پرسونل کولای شي پر معلول ماشوم انظباطي پروسیجرونه په هماغه طریقه او موده پلي کړي چې د غیر معلول ماشوم له پاره یې پلي کول، په دې توپیر چې ښوونځی باید ماشوم ته هغه خدمتونه وړاندې کړي چې د **خدمتونه** تر سرلیک لاندې روښانه شوي دي. د ماشوم IEP ټیم د دغه ډول خدمتونو له پاره لنډمهاله بدیل تعلیمي چاپېریال تعیینوي.

**خدمتونه**

هغه خدمتونه چې باید د معلولیت لرونکي ماشوم له پاره چې له خپلې اوسنی ځایګاه څخه بهر کړای شوی دی چمتو شي، هغه به ورته په بدیل لنډمهاله تعلیمي چاپېریال کې وړاندې کړای شي.

که چېرته تعلیمي حوزه د غیر معلول ماشوم له پاره په ورته شرایطو کې خدمتونه وړاندې کوي، نو په دې صورت کې اړه ده چې معلولیت لرونکي ماشوم ته هم چې له خپلې اوسنۍ ځایګاه څخه په یوه تعلیمي کال کې د **10 د ښوونځي ورځې** یا کمې له پاره حذف کړای شوی دی، همدا خدمتونه وړاندې کړي. مشېګان د غیر معلولو حذف کړای شویو زده کوونکو له پاره د خدمتونو غوښتنه نه کوي، چې په انظباطي دلایلو حذف کړای شوي وي.

هغه معلول ماشوم چې له خپلې اوسنۍ ځایګاه څخه د د ښوونځي له **10 ورځو څخه ډېرې له پاره** حذف شوي وي، باید:

1. د تعلیمي خدمت ترلاسه کولو ته دوام ورکړي، تر څو وکولای شي چې په عمومي تعلیمي کریکولم کې برخه واخلي، که دا په کوم بل محیط کې هم وي، او د هغو موخو پر لور حرکت جاري وساتي چې د ماشوم په IEP کې ټاکل شوې دي؛ **او**
2. یوه مناسبه بنسټیزه چلندي ارزونه ((FBA، د چلندي مداخلې خدمتونه او بدلونونه ترلاسه کړي چې د چلندي تخلفاتو د هوارولو له پاره جوړ شوي دي تر څو دا کار بیا تکرار نشي.

وروسته له دې چې یو ماشوم له خپل اوسني ځای څخه د **10 د ښوونځي ورځې** له پاره په هماغه یوه تعلیمي کال کې حذف شو او اوسني حذفول د **10 د ښوونځي ورځې** له پاره **او** یا تر هغې کم دي او که چېرته په حذفولو کې د ځایګاه بدلون نه راځي (لاندې تعریف وګورئ)، نو بیا د ښوونځي پرسونل، لږ تر لږه د ماشوم له یوه ښوونکي سره په سلا مشوره، مومي چې کوم خدماتو ته اړتیا ده تر څو ماشوم وکولای شي چې په عمومي کریکولم کې برخه واخلي، که څه هم دا په کوم بل چاپېریال کې وي، تر څو د هغو موخو پر لور حرکت جاري وساتي چې د ماشوم په IEP کې ټاکل شوې دي.

که چېرته له حذفولو سره په ځایګاه کې بدلون راځي (لاندې تعریف وګورئ)، د ماشوم د IEP ډله مناسب خدمات تعیینوي تر څو ماشوم وکولای شي له مخې یې په عمومي کریکولم کې برخه واخلي، که څه هم دا په کوم بل چاپېریال کوي وي، او خپل حرکت د هغو موخو پر لور جاري وساتي چې د ماشوم په IEP کې ټاکل شوې دي.

**د ظهور تعیین**

هغه معلولیت لرونکی ماشوم چې د چلن اصول یې مات کړي وي، د هغه په اړه له هرې پرېکړې وروسته په **10 د ښوونځي ورځې** کې، (له هغه حذفولو پرته چې په یوه ځل له **10 د ښوونځي ورځې** څخه کم وي او په ځایګاه کې بدلون نه وي راغلی)، تعلیمي حوزه، والدین، او د IEP ډلې اړوند غړي (چې د والدینو او تعلیمي حوزې له لوري تعیین شوي دي) باید د ماشوم په دوسیه کې ټول اړوند معلومات وګوري، د ماشوم د IEP، د ښوونکي د ملاحظاتو او د هغو معلوماتو په ګډون چې د والدینو له لوري چمتو شوي وي، تر څو تعیین کړي:

1. که چېرې د پوښتنې وړ چلند د ماشوم د معیوبیت له کبله وي، یا له هغې سره مستقیمه او اساسي اړیکه ولري او یا
2. او که چېرې د پوښتنې وړ چلند د IEP په پلې کولو کې د ماشوم د ښوونځي د تعلیمي حوزې د ناکامۍ مستقیمه پایله وي.

که چېرې د ښوونځي تعليمي حوزه، والدين او د ماشوم د IEP ټيم اړوند غړي معلومه کړي چې هر يو د دې شرايطو څخه پوره شوي دي، دا چلند د ماشوم د معيوبيت ښکارندويي کوي.

که چېرې د ښوونځي تعليمي حوزه، والدين او د ماشوم د IEP ټيم اړوند غړي معلومه کړي چې د پوښتنې وړ چلند د IEP په پلي کولو کې د ښوونځي د تعليمي حوزې د ناکامۍ مستقيمه پايله ده، د ښوونځي تعليمي ناحيه بايد د نيمګړتياوو د حل لپاره بېړنی اقدام وکړي.

**دا معلومول چې چلند د ماشوم د معيوبيت ښکارندويي کوي**

که چېرې د ښوونځي تعليمي حوزه، والدين او د ماشوم د IEP ټيم اړوند غړي معلومه کړي چې د ماشوم چلند د هغې د معيوبيت ښکارندويي کوي، د IEP ټيم بايد:

1. يوه FBA ترسره کړئ، مګر که چېرې د ښوونځي تعليمي حوزې د ځای د بدلون له کبله په چلند کې د راغلي بدلون په سبب يوه FBA ترسره کړې وي، يا د ماشوم لپاره د چلند د مداخلې يو پلان (BIP) عملي کړئ او يا
2. که چېرې يوه BIP له وړاندې ترسره شوې وي، په BIP باندې بيا کتنه وکړئ او د اړتيا په صورت کې چلند ته د رسېدنې په موخه هغه تنظيم کړئ.

پرته له هغو مواردو چې په فرعي سرليک کې راغلي دي، **ځانګړي شرايط**، د ښوونځي تعليمي حوزه بايد ماشوم بېرته هغه ځای ته واستوي چې هغه ترې لرې شوی و، پرته له دې والدين او تعليمي حوزه بايد د BIP د سمونې د يوې برخې په توګه بايد د ځای ځايګي په اړه هوکړه وکړي.

**ځانګړي شرايط**

که چېرې دا چلند د ماشوم د معيوبيت ښکارندويي وکړي او که نه، ښايي د ښوونځي مسوولين د لنډمهال لپاره (د ماشوم د IEP ټيم لخوا تشريح شوي) د 45 ښوونيزو ورځو لپاره زده کوونکی بديل ښوونيز مرکز ته تبديل کړي؛ که چېرې ماشوم:

1. ښوونځي ته وسله راوړي، په ښوونځي او يا د هغې په اړوند سيمه کې له ځان سره وسله ولري او يا د MDE تر واک لاندې سيمه کې وسله ولري او يا د ښوونځي په تعليمي حوزه کې له ځان سره وسله ولري؛
2. په آګاهانه توګه د غير قانوني دارو ګانو پلورل او په ښوونځي يا د هغې په اړوند سيمه کې، يا د MDE تر واک لاندې سيمه کې او يا د ښوونځي په تعليمي حوزه کې د کنټرول شوې مادې پلورل او غوښتنه او يا
3. په ښوونځي او د هغې اړوند سيمه، د MDE تر واک لاندې سيمه او يا د ښوونځي په تعليمي حوزه کې د بل شخص لخوا په جدي توګه ټپي شي.

**تعريفونه**

*کنټرول شوې ماده* يعنې هغه مخدره توکي يا نورې مادې چې د مهالويش I، II، III، IV، يا V برخو کې د کنټرول شويو موادو قانون (21 U.S. 812(c)) 202(c) برخه کې تعريف شوي دي.

*غیر قانوني دارو*کنټرول شوې ماده ده، مګر په هغې کنټرول شوې مادې کې نه شاملېږي چې په قانوني ډول د روغتیایي پاملرنو د متخصص تر څارنې لاندې له جواز سره ګټه ترې اخیستل کیږي او یا په قانوني ډول دفدرال قانون تر چتر لاندې ترلاسه او کارول کیږي.

*جدي بدني ټپونه*جدي بدني ټپونه د متحده ایالاتو د قانون په درېیم بند، د (ح) په فرعي بند ، د 1356 په 18 عنوان کې یوه اصطلاح ده. (د الف ضمیمي ته مراجعه وکړئ.)

*وسله*"خطرناکه وسله" د متحده ایالاتو د قانون د دوهم بند په (ز) برخه او 930 په 18 عنوان کې تشریح شوي ده. (د الف ضمیمي ته مراجعه وکړئ.)

### خبرتیا

په هغه نېټه چې د زده کوونکو د قانون د تر پېښو لاندې کولو په سبب د ماشوم د اخراج پرېکړه کوي، د ښوونځي تعلیمي حوزه باید د هغه والدین له دې پرېکړې څخه خبر کړي او والدینو ته د روندي خوندیتوب یوه خبرتیا وړاندې کړي.

## د انظباطي حذفولو له کبله د ځای بدلون

### 34 CFR §300.536

له اوسني ښوونیز ځای څخه د معیوب ماشوم لرې کول **د ځای بدلون دی** که چېرې:

1. لرې کول له 10 څخه د زیاتو ښوونیزو ورځو په ترتیب سره دي؛ **یا**
2. ماشوم د یو شمېر حذفولو سره مخامخ دی، تر څو یو شکل جوړ کړي ځکه:

a. د لرې کولو لړۍ په یوه ښوونیز کال کې له 10 څخه زیاتې ښوونیزې ورځې دي

b. د ماشوم چلند اساساً په پخوانیو پېښو کې د هغه د چلند په څېر دی، چې د جدي لرې کولو سبب شوي دي؛ او

c. د داسې اضافي عواملو لکه د لرې کولو د وخت اوږدوالی، د ټول هغه وخت اندازه چې یو ماشوم باید لرې شي او د لرې کولو تر منځ یو بل ته نږدې والی.

دا چې د حذف الګو د بدلون په کچه ده او که نه دا د ښوونځي د تعلیمي حوزې لخوا په موردي توګه ټاکل کیږي او که چېرې اعتراض وکړي د وړ او قضایي رسېدنې له لارې د بیا کتنې وړ دي.

**د تنظیماتو پېژندنه**

**34 CFR § 300.531**

د IEP ټیم باید د لرې کولو لپاره لنډمهاله ښوونیز بدیل ور وپېژني **چېد ځای بدلونونه**، او لرې کولو تر سرلیکونو لاندې **اضافي واکونه** او پورته **ځانګړي شرایط**

**غوښتنه**

**34 CFR § 300.532**

**عمومي**

ښایي د معیوب ماشوم والدین د لاندې مواردو سره د مخالفت په صورت کې د قانوني بهیر څخه شکایت (پورته مراجعه وکړئ) وکړي او د رسېدنې غوښتنې ته رسیدګي وکړي:

1. د دې دسپلیني احکامو د ځای پر ځای کولو پریکړه؛ او یا .
2. د پېژندلو ښکارندویې چې پورته تشریح شوي دي

د ښوونځي تعلیمي حوزه که چېرې په دې باور وي چې د ماشوم اوسنی ځای ښایي ماشوم او یا نورو ته د زیان رسولو سبب شي، نو دې موضوع ته د رسېدنې په موخه ښایي قانوني غوښتنه ترسره کړي.

**د اداري قانون د قاضي واک**

یو ALJ چې معیارونه یې د **د اداري قانون بې پرې قاضي** تر سرلیک لاندې ذکر شوي دي، باید د پروسې د اورېدنې ناسته ترسره کړي او پرېکړه وکړي. یو ALJ باید:

1. که چېرې ALJ تشخیص کړي چې دا حذفول د هغو ژمنو د تر پښو لاندې کېدو سبب کیږي چې په **د ښوونځي د مسوولینو واک** په فرعي سرلیک کې تشریح شوي، یا د ماشوم چلند د هغې د معیوبیت ښکارندوی وي، ماشوم هغه سیمې ته بېرته واستوئ چې ترې راوستلی مو دی.
2. که چېرې ALJ تشخیص کړي چې په اوسني ځای کې د ماشوم پاتې کېدل ښایي ماشوم او یا بل چا ته د زیان رسولو سبب شي، نو د 45 څخه د زیاتو ښوونیزو ورځو لپاره ماشوم په لنډمهالي توګه بدیل ښوونیز چاپیریال ته د استولو حکم دې وکړي.

که چېرې د ماشوم تعلیمي حوزه فکر کوي چې اصلي ځای ته د ماشوم بېرته استول ښایي ماشوم او یا بل چا ته د زیان رسولو سبب شي، د دادرسۍ دا پروسېجرونه به په تکراري ډول دوام ومومي.

هره کله چې والدین یا د ښوونځي تعلیمي حوزه دې ډول شکایت ته د رسېدنې غوښتنه وکړي، دا رسېدنه باید ټول هغه معیارونه چې په ، **شکایتونو ته د رسېدنې او اورېدنې پروسې**، کې تشریح شوي پوره کړي، پرته له لاندې مواردو:

1. MDE د چټکې رسېدنې يوه جلسه برابروي چې باید په **20** تعلیمي ورځو کې د رسېدنې د غوښتنې د نېټې له پیل څخه په لار واچول شي او باید د اورېدنې له جلسې **10** ورځې وروسته پایله ورکړي.
2. مګر دا چې والدین او د ښوونځي تعلیمي حوزه په لیکې بڼه له جلسې څخه صرف نظر وکړي او له منځګړي څخه په ګټې اخیستنې هوکړه وکړي، د حل او فصل جلسه باید په **اووه** ورځو کې د قانوني بهیر څخه د شکایت له ترلاسه کولو وروسته ترسره شي. ښايي موضوع ته رسېدنه دوام ومومي، مګر په هغه صورت کې چې په **15** کاري ورځو کې د شکایت له ترلاسه کولو وروسته د عادلانه پرېکړې له لارې د دواړو اړخونو په خوښه پایته ورسېږي.

هغه پرېکړه چې شکایت د رسېدنې په بهیر کې ترسره کېږي وروستې ده، په دې توپیر سره چې په جلسه کې دواړه شامل اړخونه (تاسو او د ښوونځي تعلیمي حوزه) کولای شي مدني دعوا مطرح کړي، لکه څرنګه چې د (د مدني کړنو) په عنوان کې هغه وخت چې تاسو باید نوملیکنه وکړئ تشریح شوی دی.

## د غوښتنې پر مهال ځای پر ځای کول

### 34 CFR §300.533

لکه څرنګه چې پورته ذکر شول، که چېرې والدینو یا د ښوونځي تعلیمي حوزې د انضباطي مسایلو په اړه شکایت وړاندې کړی وي، ماشوم باید( مګر دا چې والدینو، MDE او یا د تعلیمي حوزې په بل ډول هوکړه کړې وي) د ځای پر ځای کېدو په لنډمهاله ښوونیز چاپېریال کې پاتې شي، تر هغې چې د ښوونیز انجمن لخوا پرېکړه ترسره شي. د اورېدلو مسوول او یا د حذف موده چې د ښوونځي د پرسونل د واکونو تر عنوان لاندې پیش بیني شوې، هر یو چې ژر پېښ شي.

## له هغو ماشومانو څخه ملاتړ چې تر اوسه د ځانګړو زده کړو او د هغوی اړوند خدمتونو په شرایطو برابر نه دي

### 34 CFR §300.534

#### عمومي

که چېرې یو ماشوم د ځانګړو زده کړو او د هغوی اړوند خدمتونو په شرایطو برابر ونه ګڼل شي او د زده کوونکو اړوند قانون تر پېښو لاندې کړي، مګر ښوونځي له وړاندې د هغې کړنې په اړه چې د انضباطي اقدام سبب شوې د ماشوم له معیوبیت څخه خبر وي( لکه څرنګه چې په لاندې ډول ذکر شوي) په دې حالت کې معیوب ماشوم کولای په دې خبرپانه کې له راغلي ملاتړ څخه برخمن شي.

#### په انضباطي موضوعاتو باندې د پوهېدو بنسټونه

د ښوونځي تعلیمي حوزه باید د ماشوم د معیوبیت د پېژندلو په هڅه کې وي، که چېرې وړاندې له هغې کړنې چې د انضباطي اقدام سبب شوې وي:

1. د ماشوم والدین په لیکلې بڼه خپل ماشوم ته د څارونکي پرسونل او یا اړوند ښوونیز سازمان یا د ماشوم د ښوونکي لخوا هغې ته د ځانګړو زده کړو او د هغې اړوند خدمتونو د وړاندې کولو په اړه اندیښنه څرګنده کړې.

2. د ماشوم والدین د IDEA د B برخې تر چتر لاندې د ځانګړو زده کړو او د هغې اړوند خدمتونو پر شرایطو د برابرېدو د ارزونې په موخه غوښتنه کوي؛ او یا
3. د ماشوم ښوونکی او یا نور د ښوونځي د حوزې پرسونل د ماشوم لخوا د چال چلند د نښو نښانو په اړه خپلې ځانګړې اندیښنې په مستقیم ډول د ښوونځي د حوزې د ځانګړو زده کړو مشر او یا د دې حوزې نورو څارونکو اشخاصو ته څرګندوي.

**استثنا**

د ښوونځي تعلیمي حوزه به ونه هڅول شي چې داسې پوهه ولري، که چېرې:

1. د ماشوم والدینو د هغې د ارزونې اجازه نه وي ورکړې او یا یې د ځانګړو زده کړو خدمتونه رد کړي وي؛ او
2. یا ماشوم و ارزول شي او د IDEA د B برخې په رڼا کې معیوبیت لرونکی ونه پېژندل شي.

**هغه شرایط چې د پوهې د نه شتون په صورت کې پلي کیږي**

که چېرې د ماشوم پر وړاندې د انضباطي اقداماتو له ترسره کولو وړاندې، د ښوونځي تعلیمي حوزه خبره نه وي چې ماشوم معیوبیت لري، لکه څرنګه چې پورته په فرعي سرلیک کې **په انضباطي موضوعاتو د پوهېدو بنسټونه او استثنا**، چې ښايي د هغه ماشوم چې معیوبیت نه لري په مقایسوي چلند کې د ښکېل کېدو له کبله له انضباطي اقداماتو سره مخ شي.

سربېره پر دې، که چېرې ماشوم په هغه وخت کې له انضباطي اقداماتو سره مخ وي، د هغې د ارزونې غوښتنه ترسره شي، دا ارزونه باید په ډېره چټکه توګه ترسره شي.

تر هغې چې ارزونه بشپړیږي، ماشوم په هغه ښوونیز ځای کې پاتې کیږي چې د ښوونځي د مسوولینو لخوا مشخص شوی دی، چې په هغې کې به له ښوونیزو خدمتونو پرته څنډ او ایستل شامل وي.

که چېرې یو ماشوم معیوبیت لرونکی وپېژندل شي، د هغو معلوماتو په نظر کې نیولو سره چې د ښوونځي د حوزې لخوا د نوموړې د ارزونې او د هغې د والدینو لخوا وړاندې شوي د ښوونځي تعلیمي حوزه باید هغې ته د IDEA د B برخې په رڼا کې د انضباطي اړتیاوو په ګډون چې پورته ذکر شوي هغې ته ځانګړې زده کړې او د هغې اړوند خدمتونه برابر کړي

**د انتظامي او قضایي چاراواکو لخوا راجع کول او اقدام**

**34 CFR §300.535**

د IDEA د B برخه په دې ډول نه ده:

1. د یوه ماشوم لخوا اړوندو ادارو ته د ترسره شوي جرم په اړه د راپور ورکولو څخه د یوې ادارې منع کول؛ او یا
2. د یوه معیوب ماشوم لخوا د ترسره شوي جرم له کبله د انتظامي او قضایي چاراواکو لخوا د فدرال او دولتي قوانینو په رڼا کې د خپلو مسوولیتونو د ترسره کولو څخه مخنیوی کول.

**د سوابقو لیږد**

که چیرې د ښوونځي تعلیمي حوزه د یوه معیوب ماشوم لخوا د ترسره شوي جرم په اړه راپور ورکړي، نو د ښوونځي تعلیمي حوزه باید:

1. ځان ډاډمن کړي چې د ماشوم د ځانګړو زده کړو او انضباطي سوابقو کاپي هغو ادارو ته چې د ایجنسي لخوا ورته د جرم په اړه راپور ورکړ شوی د ارزولو په موخه لیږدول شوي؛ او
2. ښايي د ماشوم د ځانګړو زده کړو او سوابقو د اسنادو کاپي یوازې تر هغې کچې ولیږدوئ چې د FERPA لخوا اجازه ور کړل شوې ده.

## په عامه لګښت په خصوصي ښوونځیو کې د ماشومانو د والدینو لخوا د یو اړخیز ځای پرځای کولو اړتیاوې

### عمومي

#### 34 CFR §300.148

که چیرې ښوونځی ستاسو ماشوم ته یو FAPE په واک کې ورکړي او تاسو وټاکئ چې ماشوم مو په خصوصي ښوونځي شامل کړئ، د IDEA د B برخه ستاسو معیوب ماشوم ته د ځانګړو زده کړو او د هغې اړوند خدمتونو په ګډون د زده کړو د لګښت ورکړې ته اړتیا نه لري. په داسې حال کې، چې که چیرې د ښوونځي تعلیمي حوزې ته نږدې خصوصي ښوونځی موقعیت ولري باید ستاسو ماشوم په هغه کې شامل کړي چې د ځانګړې زده کړې اړتیاوې د B برخې احکاموکې د ماشومانو په اړه په ګوته شوي، پرته له دې چې د والدینو لخوا په خصوصي ښوونځي کې د 34 CFR §§300.131 څخه تر 300.144 پورې ځای په ځای شوي دی.

**په خصوصي ښوونځي کې د ځای پر ځای کولو لپاره اداینه**

که چیرې ستاسو ماشوم له وړاندې د ښوونځي د تعلیمي حوزې تر چتر لاندې ځانګړې زده کړې او د هغې اړوند خدمتونه ترلاسه کړي وي او تاسو غوره کړي وي چې خپل ماشوم د ښوونځي په چمتووالي، ابتدایه او یا منځني ښوونځي کې د ښوونځي د حوزې له رضایت او هغې ته له ارجاع پرته شامل کړي وي، نو یوه محکمه او یا ALJ ښایي له اېجنسۍ څخه وغواړي چې د شمولیت پیسې تاسو ته بیرته ادا کړي او که چیرې محکمه او یا ALJ ومومي چې ایجنسۍ ستاسو ماشوم ته له شمولیت وړاندې په وخت سره FAPE نه ده برابره کړې نو په دې حالت کې خصوصي ځای پر ځای کول وړ کار ګڼل کیږي. یو ALJ او یا محکمه شاید ستاسو لخوا ځای پر ځای کول مناسب وګڼي، په داسې حال کې چې ښایي دا ځای پر ځای کول د MDE او د ښوونځیو د حوزو لخوا د زده کړو د پلي کېدو دولتي معیارونه پوره نه کړي.

**په بیرته اداینه باندې محدودیتونه**

د بیرته اداینې لګښتونه چې په پورته پاراګراف کې ذکر شوي، ښایي کم او یا له هغه څخه ډډه وشي:

1. که چیرې: (الف) د IEP په وروستۍ ناسته کې چې تاسو د خپل ماشوم له عامه ښوونځي څخه د ایستلو دمخه برخه اخیستې وه، تاسو د IEP ټیم ته خبر نه و ورکړی چې تاسو د ښوونځي د حوزې لخوا ستاسو ماشوم ته د FAPE چمتو کولو لپاره وړاندیز شوی ځای پر ځای کول رد کوئ، په شمول ستاسو د اندېښنو بیانول او ستاسو اراده چې ستاسو ماشوم په عامه لګښت په خصوصي ښوونځي کې شامل کړئ؛ یا (ب) لږ تر لږه 10 کاري ورځې (د هرې رخصتۍ په شمول چې په یوه کاري ورځ کې واقع کیږي) مخکې له دې چې ستاسو ماشوم له عامه ښوونځي څخه وویستل شي، تاسو د دې په اړه د ښوونځي تعلیمي حوزې ته لیکلي خبرتیا نه وه استولې؛
2. که چیرې له عامه ښوونځي څخه له ایستلو وړاندې د ښوونځي تعلیمي حوزې تاسو ته د خپل ماشوم د ارزونې په اړه مخکینۍ لیکلي خبرتیا درکړې وي (د ارزونې د مناسبې او وړ موخې په ګډون)، مګر تاسو ماشوم د ارزونې لپاره نه وي چمتو کړی؛ **او یا**
3. یوه محکمه ومومي چې ستاسو کړنې بې دلیله وې.

سربېره پر دې، د بېرته اداینې لګښتونه:

1. باید د خبرتیا په برابرولو کې د ناکامی له کبله کم او یا رد نه کړل شي، که چیرې: (الف) ښوونځي تاسو د خبرتیا له برابرولو څخه منع کړي یاستئ؛ (ب) تاسو ته د پورتنۍ خبرتیا په اړه د خپلو مسوولیتونو د ترسره کولو په موخه خبرتیا نه وي در استول شوې؛ او یا (ج) له پورتنیو غوښتنو سره موافقت ښایي ستاسو ماشوم ته په فزیکي ډول د زیان رسولو سبب شي؛ او

2. ښایي د محکمې یا ALJ په واکونو کې، د اړتیا وړ خبرتیا په چمتو کولو کې د والدینو د پاتې راتلو له کبله کموالی او یا لغوه کېدل رامنځته نه شي او که چیرې: (الف) والدین سواد ونه لري او په انګلیسي لیکنه ونه شي کړای؛ (ب) له پورتنیو غوښتنو سره موافقت ښایي ستاسو ماشوم ته د جدي رواني زیان رسولو سبب شي.

### د بلوغ عمر کې د والدینو د حقونو لیږد

### 34 CFR §300.520

کله چې یو معیوب زده کوونکی د بلوغ سن ته رسیږي (په هغه صورت کې 18 کاله چې په مېشیګان کې یو قانوني سرپرست نه وي ټاکل شوی)، دولتي اداري باید د IDEA د B برخې سره سم ټولې د اړتیا سره سم اخطار پاڼې زده کوونکي او د هغې والدینو ته وړاندې کړي. او ټول هغه حقونه چې د IDEA په B برخه کې والدینو ته ورکړل شوي، زده کوونکي ته لیږدول کیږي. ټول هغه حقونه چې والدینو ته ور کړل شوي، هغو زده کوونکو ته هم لیږدول کیږي چې د بلوغ سن ته رسېدلي وي او د فدرال په اصلاحي، ایالتي او یا د لویانو او نویو ځوانانو په یوه موسسه کې زنداني وي.

## جدي بدني زيان

**18 USC 1365(h)**

3. د "جدي بدني زيان" اصطلاح د بدني زيان معنی لري چې په هغې کې لاندې څيزونه شامل دي -

(A) د پام وړ د مرګ خطر؛

(B) شديد فزيکي دردونه؛

(C) ښکاره او اوږدمهاله د څېرې بدلون؛ او يا

(D) او يا د اوږد مهال لپاره د بدن د يوې عضوې، ارګان او يا ذهني قوې له لاسه ورکول او يا

4. بدني زيان يعنې-

(A) غوځول، سولول، شنه کول، سوځول، د شکل بدلون؛

(B) فزيکي دردونه؛

(C) ناروغی؛

(D) او يا د بدن د يوې عضوې، ارګان او يا ذهني قوې له لاسه ورکول او يا

(E) بدن ته بل ډول زيان مهم نه دی چې څومره لنډمهاله وي

**وسله**

18 USC 930(h)

(2) د "خطرناکي وسلې" اصطلاح هر هغې وسلې، وسيلې، موادو، مادې، روح لرونکي او بې روحه چې د مړينې يا جدي جسمي زيان رسولو لپاره کارول کيږي، يا په اسانی سره د زيان رسولو وړتيا ولري، دا اصطلاح هغه جيبي چاقو ته نه شامليږي چې له ½ 2 انچو څخه کم اوږدوالی ولري.